۹۵

Ketabton.com

# پښتو متلونه

## ټولونه او تحلیل

د

## S.STHORBURN

ژباړه او بیالیکنه

## د شیر محمد کریمی

خپرونکی

## دافغانستان دعلومو اکادمی

دژبو او ادبیاتو علمی او تحقیقی مرکز

پښتو ټولنه

د فولکلور او شفاهی ادب لوی مدیریت

۱۳۶۰



د چاپ ځای : گوندی مطبعه

د چاپ شمیر : ۱۰۰۰

PROPERTY OF ACKU 1508

# سریزه

دافغانستان علومو اکادمی دژبواوادبیاتو علمی او تحقیقی مرکز دفولکلورلوی مدیریت ویاړی چی دخپل مترقی اووګړنی دولت دکلتوری پالیسی له مخی داولس دادبیاتو ډیر ارزښتمند آثار خپل ملت ته په چاپی ډول وړاندی کوی اوداولس دکولتوردغنا سبب کیږی، **دغه کتاب چی دپښتوژبی متلونه پکی راټول شویدی دپښتوشفاهی ادب** وړیوه مجموعه ده .

دغه متلونه چی په دی مجموعه کی خوندی شوی داولس هغه لویی خبری دی چی په هره جمله کی یی لوی مفهوم پروت دی.ښه به داوی چی دمتلونو دارزښت ، منځ ته راتګ او نورو ځینو خصوصیاتو یی څه خبری وشی .

دهر ملت او ټولنی تاریخ ددوی دروحیاتو ښکارندویی کوی او د نفسی خصوصیاتو هنداره ده ، دیوه ملت لوړتوب اوکښته توب د هماغه ملت دروحیاتو او احساساتو اغیزه او نتیجه ده دټولنو په ټولنیز نفس کی دوه علتونه ډیر مهم دی اول وراثت او دوهم محیط هر محیط ځانته اغیزی لری اخلاق او دودونه ، جزبات نفسیات او نور ټول دانسان مادی او معنوی خصوصیات دچاپیریال په اختلاف تغیر کوی مثلاً : هغه اربابان چی دپښتو- نخواله سیمو څخه دهند ورشوګانو ته واوښتل نوهلته ددوی ټول خصوصیات وګرځیدل مګر هغه اربابان چی په دغو غرو کی میشته شول دبیلو

خصوصیاتو لرونکی دی ځکه ادبیات او ژبه شعر متلونه ، قصی او نور ادبی روایات تل دهغه ملت داجتماعی نفس اوملی خصوصیاتو هنداره وی . نوکه څوك وغواړی چی دیوه ملت ټولنیز خصوصیات او جذبات وڅیړی نودنوموړی څیړنی لپاره په ادبیاتو کی ډیر ذخایر اومواد لاسته ورتلای‌شی. دپښتنو دشفاهی ادبیاتو یومهم‌ټوك متلونه دی‌چی په لنډو وینا ووکی‌حکمتونه او دګټی خبری ځای شوی وی .

په متلو نو کی دملتونو دروحیاتو خواوی پرتی وی او ځینی پوهان وایی چی‌له شعر څخه هم متلونه دملتونو پرعقلیت ښه دلالت‌کوی ځکه متلونه دعوامو له تفکر څخه حکایت کوی اودعوامو په ژبه وی په مختلفو او ضاعو کی‌دتجربو نتیجی دی‌چی په لنډو کلماتو کی‌ځای شوی‌دی مثلا د پښتو دا متل که وګورو : «جنګ‌په وسله کیږی اوننګ په غله» له نوموړی متل څخه داسی نتیجه اخستل کیږی .

دپښتنوټولنیز ژوند دوه رکنه لری :

۱ـ له ځانه دفاع

۲ـ یوله بله سره په روغه ژوند کول

په پورتنی متل کی لومړنی رکن ته جنګ او دوهم رکن ته ننګ ویل شویدی ددوی عسکری احساسات په دفاعی حرکاتو کی او دننګ جذبات په خپلوی او روغه کی د ژوندانه دار مدار وو. وسله په دوی کی مهم اوغله هم‌داړتیا شی وه (۱).

نوموړی ټولنیزی اړتیا دوی کرنی ته هڅول ، نویی په معاشره کی زراعتی روحیه اودکرنی قدرکول داخل‌شول . داروحیه که څه هم دزړو اریائیانو ده او په زړو کتابو کی ددوی زراعتی حالت ډیرښه څرګندشوی مګرپه پښتو نوالی کی‌خودغه روح بل‌راز شواودپښتنو دروحیاتوسره سم‌دننګ دپاره یو ه وسیله شوه اوله هغه څخه مونږته معلومیږی چی دپښتنو دټولنیز ژوند اساس ننګ ؤ . نودننګ لپاره غله او کښت ضرور ؤ او دی کیفیت د پښتو-نخوا وګړی اکثر کرونکی اوزراعت پیشه کړل .

په همدی ډول‌دپښتو هرمتل‌یوه ګټوره وجیزه ده چی‌ددوی روحیات او ټولنیز ژوند ښه ځینی ښکاری‌اودپښتنوداولسی ادب‌هغه بډایه پانګه ده چی دټولنی دژوند ټولی خواوی پکی څرګندی شوی دی: مینه اوښکلا ، وصال او بیلتون خوښی او خوا شینی ، اخلاق او تاریخ ، جغرافیه او مذهب ، اقتصاد اوعدالت ، وطنپالنه اونوری ایډیاګانی پکی ځای کړل شوی دی .

ـمتلونه دپښتنو په هره سیمه ،هرکلی او هر کور کی داولس دادب یوه مهمه او درنه برخه جوړوی چی په هره سیمه کی په خاص ډول دیوه

---

(۱) وږمه ۹ کال ، اګښه ۱۳۴٤ کال ، مخ ۱٥

مطلب دادا لپاره‌ویل کیږی . او دا چی داولس دادبیاتو یوه مهمه اوارتــه برخه ده نو په‌دغه وسیله کله کله متلونه دژوند ترخی په‌چا اسانـوی ا و کیدای شی‌چی دیوه‌متل‌په ویلو دخپل زړه‌تسکین وکړی اودغم درو نـــد پیټی له ځانه لری کړی . متل دخبرویوه لنډه‌جمله‌ده چی دمعنا په لحاظ‌بشپړه اودمفهوم په لحاظ عامه وی ښاغلی دوست «دپښتو داولسی ادب لاری» کتـاب کی لیکلی :«دمتل بلاغت اوفصاحت په دی کی دی چی دفورم له مخی لنډ او موجز،اودمعنا په لحاظ مستعار اوکنایه ، دافهام له مخی ساده او عام فهـم او ا ودافادی په لحاظ په هدف رسا اوسم لګیږی . » (۱)

دپورتنی عبارت له مخی‌ربښتیا هم که چیری هرمتل تحلیل او تجزیـــه کړونو دهرمتل پــه خوراساده الفاظو کـــی لو ی مفهوم پـروت وی . لومړنی ویونکی ښکاره نه وی خودحکیمانه او فیلسوفانه افادی‌او ارزښت له برکته داولس پرژبه جاری پاتی شوی وی اوله یوه نسله بل‌ته رسیږی .

دمتل پـه‌ویلو کی‌کـه څـــه‌هم شخص مفرد غـایب یامخاطب ځای‌لـــری خودویونکی او اوریدونکی له خوا یی دپوهیدو مفهوم او هدف عام وی اودا چی متل یا متلونه له کومه شوی‌او څرنګه پیدا شوی باید وویل شی چــی دفولکلوریستانو په‌ګروهه متلونه هغه‌وخت داولس په‌ژبه جاری شـــوی چی داولس ژبی لادلیك په‌قیدنه کی‌وی راغلی .

متلونه چی‌دژبی بالار ښښته پانګه اود اولس دژوند پیښنو او کلتـــور هنداره ده‌په ژبه کی دپیدا ینښت څو لاری لری چی تر ټولو با ارزښته او مهمی لاری یی دا دی :

-دطبعی او ټولنیز وپیښنو له درکه هغوته دارزښت ور کو لو او پـــه مستعار ډول په تیپیکو پیښنو کی دکارونی او تکرار له لاری.

دتاریخی پیښنو ددرك او انعکاس له لاری

- داشعارو اوسند روله لاری

-بیخی محدوده برخه دکتابونو له لاری

-دمذهبی احکامو او روایاتو له لاری

-دنورو ژبو دترجمی او اخستنی له لاری

دیرځله لنډی دمتلونو‌په ځای کارول کیږی‌اودا حالت هغه وخت مینــــځ ته راځی چی لنډۍ له خپلی اصلی معنا څخه ووځی اوکنایی معنا افاده کړی لکه :په پټاسودی اموخته کړ‌ماته دجواروپولی خوندنه را کوینـــــــه داهغه‌وخت وی چی خپل‌یار په ښوښوسو غاټونو اموخته وی‌او کلـــه‌چی ورته ادنـــی‌سوغات‌راوړی‌نو‌په دی‌صورت کی‌کم‌بهاسوغات‌خوندنه ورکوی او وا یـــی

ولی دی اول راته ښه سوغات راوړ . په همدی ډول دمتلونو او ادبیاتو

(۱) دپښتو داولسی ادب لاری مـخ ۵۸

نر مینځ ډیر ځله اخذ او اقتباس لیدل کیږی ډیر ځله یو بیت یا مصراع د متل په ځای تکراریږی اومتل ګرځی مثلاً :

خپل وطن کشمیر دی ماپردی وطن ته چیری وری * زړه مـی شو ذری ذ ری
نصیحت په غافلانو اثرنه کا* دسړی اوسپنی خوشی ټکول دی

متلونه عموماً پـه ټولنو کـی پـه معیاری ژبـو خپر یـږی ، هغـه متلونه چی په معیاری ژبه وی دټولنی په هر ګوټ کی اوریدل کیږی خو د ټولنی په ځینو سیمو کی داسی متلونه هم وی چی په هغو کی دیوی لهجـی انعکاس ساتل شوی وی لکه :

چی رار سیږی دسوات پستی *دخوارانو به ښکاره شی سری پوندي (۱)
ډیرځله په متلونو کی داهم لیدل کیږی چی دژبی دیو لهجی دیـو ی کلمـی په ځای په بله سیمه کی بله کلمه کارول کیږی لکه په لویدیځی لهجـی کی ګیلګی د موږی په زور غورځی .

**په ختیځه کی «دګیلګی په ځای آس کارول کیږی»**

په متلونو کی ډیر داسی متلونه هم شته چی سندریز خصوصیت لـری چی **دمتلونو همد غه سندریز خصوصیت دمتلونو په ارزښت کی ډیر رول لری ،په متلونو کی هرډول استعاره ،کنایه اومجاز ځای شوی دی ،خـو** سره له دی یی مفهوم اودکارونی موردبیخی څرګنددی چـی ایجازاو دبداعت خصوصیات یی ادبی مقبولیت عام کړی دی په پښتو ژبه کی عموماً دوه ډوله متلونه موندل کیږی .

۱ــمنظوم متلونه

۲منثور متلـونه

دکولتوری وګړ پیژندنی له څیړنو څخه څرګنده شویده چی دهری ټولنی متلونه ځانله ځینی ارزښتونه منعکسوی اونوموړی ارزښتونه هغه ارزښتونه دی چی په ټول تاریخ کی دګډو تجربو له لاری مونږ ته رارسیدلـی دی (۲ ) متلونه چی ځینی ارزښتو نه یی دګډی بشری پوهنی زیږنده دی او کیدای شی په اکثرو ژبو کی یی مثالونه پیدا کړو او همدارنګه ځینی نور متلونـه شته چی نسبی بڼه لری دخاصی ټولنی کولتوری ارزښتو نـه او یـا دیوی ټاکلی دوری اړیکی تمثیلوی.

هغه متلونه چی مطلق ارزښت لری لکه :ارمان چی وروستی عقل ړومبی وی .

انسان تابع د احسان
اول همیانی ګوره بیانو شی را نیسه

---

(۱) دپښتو داولسی ادب لاری ۵۸ مـخ
(۲) دفرهنګ مردم مجله دریم کال ٤ ګڼه ٥ مـخ

دمسلط کلتور نمایندگی کوی .
په پښتو ژبه کې ځینې داسې متلونه هم شته چې کولتوري ریښې لـري او بلې ژبې ته یې ترجمه گرانه ده لکه :
پور تنی متل په یوه خاص کلتور پورې اړه لري .
لنډه دا چې متلونه دیوې ټولنې دارزښتونو ،انگیرنو او گرو هنو هنداره ده.

ځینې متلونه دټولنیو هنی دپاره دکلي حیثیت لري او له هغو څخه دیوې ټولنې دژوند دځرنگوالي په باب ډیر معلومات ترلاسه کیدای شي .
داچې دژبو او ادبیا تو پوهنځي له مونږ څخه وغوښتل چې دغلام محی الدین افغان دشپیتم تلین په ویاړ دمتلونو دغه مجموعه خپره کړو ،دغه مجموعه چې چې همدا اوس ستاسي په واك کې ده S.S THORBurn را ټوله کړې ، تشریحات یې پرې لیکلي په انگریزي یې ترجمه کړې او د Bunnu or our Afghan Frontier په دریم فصل کې یې خوندي کړې دي، ددې ضبط یوه خاصه ځانگړنه داده،چې نوموړي تربرن له انگریزي ترجمې سر بیره د متلونو اصلي پښتو شکل هم په ځانگړي ډول په پښتو الفبې خوندي کړیدی، د ځینو متلونو په باب شرحې او په اولس کې ددغو متلونو په باب قصې اوروایات یې هم راټول اوخوندي کړي دي .
دغه مجموعه ډیرداسې متلونه لري چې دمتلونو په نورو مجموعو کې نه دي راغلي ، اوکه ځینې یې راغلي هم وي نوکله چې مونږ د متلونو په تحقیقي څیړنو کارپیلوو. دغه مجموعه محققینو ته دنسخه بدل په توگه ډیرښه کار ورکوي ، او په بله وینا د متلونو دبیلا بیلو وریانتو نو په ښوولو کې ډیره گټه ځنې اخیستل کیدای شي .
دامتلونه ټولوونکي ، له کوم کتاب یامجموعې نه ندي رانقل کړي، بلکه په اولس کې یې راټول کړي ،او دپښتنو دیوې خاصې سیمې متلونه دي ،چې خپرول یې زموږ دآینده څیړنو له پاره گټور بریښي .
په همدې اساس یې خپرول وړولیدل شول ، چې دادې دژبو او ادبیاتو دپوهنځي په سپارښتنه د افغانستان دعلوموا کاډیمی دعلمي او تحقیقي مرکز دشفاهي ادب او فولکلور دلوی مدیریت له خوا دپښتنی فولکلور مینانو ته په مینه وړاندې کیږي .
ښایی دغه مجموعه ځینې تیروتنې هم ولري موږ دموادو په توگه بې لاسوهنې چاپ کـړل .

**په در ناوې**
**څیړنیار مصطفی نږدی**
**دفولکلور او شفاهي ادب لوی مدیر**

# پښتو متلونه

موږ ټول په دی پوهیږو چی متل څه شی دی ، او په یوه متل کی څه شی وی . مگر بیاهم ډیر کم خلك دی چی بی له زیات تفکر څخه دهغی مفهوم بیان کړی . دمتل لپاره خاص تعریف ورکول مشکل کار دی ځکه چی د متلونو، مقولو ، شعارونو او نورو اخلاقی او اجتماعی کیسو ترمینځ کله زیات مشابهت د معنا او مفهوم په لحاظ موجود دی.

متلونه داسی جملی دی چی د خلکو په منځ کی خاص استعمال لری او د یوه مفهوم دتائیداو تثبیت په خاطر په خاص ډول سره استعمالیږی ، اوزما په نظر دا ترټولو لنډ تعریف دی. ترهغه وخته پوری چی د ټولنی یو ټولنیز اومشترك مضمون دټولو له خوا دعقل اوپوهنی له مخی سره زبیښلی شوی اونښتیږلی شوی‌نه وی اوله هغی یو ه‌دا سی لنډه جمله را زیږیدلی نه وی چی دټولو له خوا قبوله شی‌اوپه منطقه کی‌یی ریښی دکلو کلو په تیریدو سره پخی شوی‌نه وی ترهغو پوری دمتل‌په نوم نه شی یادیدای.

دداسی شریفانه مقام‌تر لاسه کولوپه خاطریومتل‌که څه هم لنډه دشعور نه ډك او خوږوی خودخلکو له خوا باید ومنل شی. ددی لپاره چی‌متل دخلکوله خوا قبول‌شی بایدپه ساده او عامیانه ژبه کی وی او همدارنگه داسی آهنگ اواز انگه په کی وی چی دخلکو په غوږو ښی ولگیږی او په مغزوکی سملاسی ځای ونیسی او زړونه یی قبول کړی . ددی مقصد لپاره په یوه متل‌کی همیشه وزن ، قافیه ، زیراوبم یو ځای کړای شوی دی.

په یوه متل کی دری ضروری شیان دادی:

لنډوالی ـ مقصد او مفهوم ـ خوږوالی . هرمتل چی دادری صفتونه ولری که په هرهژبه کی وی دخلکو له خوا دقبلیدو وړگنل کیږی . دمثال په توگه که چیری یوسړی داهیله ولری چی متل جوړ کړی او دگور پـه ډبره ئی ولیکلی شی چی «دیسړی متل جوړ کړی دی .» او متل یی دری ضروری شیان هم ولری لکه لنډ والی، مفهوم او خوږوالی . ترڅوچی خلك هغه په خپلو اذهانو کیونه منی بیاهم موږ متلونه ورته وایو ، دخلکو له خوا قبلول دمتل لومړنی شرطدی .متل په خلکو باندی تحمیلیدای نه شی.
دمتلو نو ترټولو پخوانی کتاب ښائی دسلیمان پاچا دمتلونو کتاب وی .
له هغه وخت څخه راپه دی خوا په ملیونونو متلونه لیکل شوی او منځ ته راغلی دی، ډیریی له منځه تللی دی او ډیر یی لاتر اوسه له پخوا څخه ژوندی پاتیشوی دی.څه زاړهاو څه نوی خو که چیری د مختلفو ټولنو متلونه سره مقایسه شی بیاهم دیوه مطلب دافاده کولو لپاره سره ورته والی لری .
دپښتو متلونو دالومړی کلکیسون دی نوځکه به خامخا نیمگړتیاوی لری .
او دا متلونه خاص دپښتنو دعرفاو مفکورو ښکارندوی دی . نو ځکه فکر کوم چی دپښتنو دمعاشری دپوهیدو په خاطر به دگټی وړملتونه وی . کاشکی په سل گونه نور متلونه می را ټول کړی وای او همدارنگه ډیر متلونه می پریښودل ځکه چی د لفظ په لحاظ د ادب څخه یوڅه لری وو، همدارنگه ماهغه کړی ده چی ددری یا عربی ژبو متلونه ورسره گډنه کړم او خالص دپښتنو خاص او ځانگړی متلونه ټول کړم . سره له دی که ځینی ئی راغلی هموی البته علتئی دادی چیدهغو دسوچتابه پههکله ماته اشتباه موجوده وه. زماپه نظر دداسی یوی مجموعی هدف دادی چی دیوی ټولنی په دننیو افکاروخبرشوددوی دټولنیزوحالاتو څخه معلومات ترلاسه کړو. د بشر هرنژادله ښکته نه ترپورته پوری په علمی مقیاس سرهچی یو څه اندازه پهژبه کیلاس ولری بیشمیره متلونه پیژنی متلونه که څههم لیکل شوی نه وی خود پرځان دانتقاد په شکل شفاهاً موجود او ټولنړ ی ته معلوم دی.
دمتلپه واسطه دیوی ټولنیډیر پټ د ننني رازونه پیژندل کیږی .دا حقیقت په تیره بیا په وروسته پاتی او لومړنیو قبیلو کی ښه تحقق مومی او دهغوی متلونه په هم دی علت ډیر ارزښتناك شمیرل کیږی .مگر کله چی دیوی ټولنی متلونه ارزیابی کوو دهغو خلکو ټولنیز اوعلمی مقام بایدپه نظر کی ونیسو . ځکه چی متلونه معمولاً دیوی ټولنی دلوړی طبقی دخلکو له خوا اختراع کیږی چیدټولنی له عمومیاخلاقیاوټولنیزی مرتبی څخه لوړدی ، او دا متلونه ددوی عادات او افکار ښه تمثیلوی او عمومی وضع نه ښیی .متضاد اونه پخلا کیدونکی متلونه همدسره ورته موضوع په

هکله شته چی ځینی یی ادبی او ځینی نوریی ډیر سپك او په بازاری ژبه وی چی داسپك متلونه په حقیقت کی دخلکو دعامو افکارو ښه ممثل ګڼلی‌شو اودا دخلکو دپرګنو نظر بلل کیږی . دا لاندی متلونه چی مارا ټول کـــړی دی‌زیاتـره ئی‌د۱۸۷۲ م‌کال پـه منی اود۱۸۷٤ م‌پـه ډیـره‌تـوده هـــواکی راغونډ کړای شوی دی . د «میرانی ـطبقه اومحل » تر عنوانو لانــــدی متلونه دا باسین دوادی دی اوددی‌منطقی (بنو )په‌خلکوپوری ارتباط نه لری بلکه د پیښور ، خوست او ختیکو د غونډ یو څخه راټول کړای شوی دی. او ځینی متلونه ئی په ډیرو خاصو منطقو کی مروج دی . او همـدارنګـــه داهم نه شوو یلای‌چی داټول متلونه ددی‌ساحی خاص متلــونـــه دی . که‌چیری دمتلونو ریښه اومیتود دافکار وداظهار اوویلوپه ارتباط وګـورو نوهغه داچی ډیری طبقی له‌هغو سره له اخلاقی او نورو خـو اونه ارتبا ط لری، چی‌وروسته به بیان شی . که‌څه هم‌بشر په‌مختلفو نژادو ویشل کیږی او دنسب یاژبی په اساس ارتباط نه سره لری خو بیاهم خالق انسا نـــا ن داسی پیدا کړی دی چی مشا به فکرونه ، منی او خواهشات لری. د ټولنو دنژاد ونودتفکر په ارتباط که سپین دی او که تور ،آرین دی اوکه سیمتیك متمدن دی اوکه وحشی ، دتدریس اوپوهی په مرسته په مشابه ارزیابـی دی نتیجی ته رسیدلی دی چی دخلکو دعمومی احساس او دخلکو د حرکاتو او فعالیتونو اداره کوونکی عوامل ئی بللی شو . دهرعمل منشأ چی څیړل کیږی دهغی سره شرف ، افتخار او شرم او ننګ د مربوط عمل سره مدنظر نیول کیږی که څه هم به دهغی په تشریح او تحلیل کی د علمی سوئی مختلف ستا ندارد موجود وی . بالاخره موږ ته دا ثابتیږی چی د ډیــرو خلکو ،چی ژبی یی څیړل شوی دی متلونه یی د خلکو په مینه ، میړانه توره ـډار ـښیګړه ـبدګړه ـهوښیاری ـبی‌عقلی ـدښځو ضعف ،دسړیو غولول ـتکبر او داسی نورو طبقاتی خصوصیاتو په هکله دی او یوله بل سره تشابه لری . پښتانه دډیر نژادو په پرتله انګریزانو سره لـږ توپیر لری مګر سره له دی د دواړو خلکو ترمنځ دومره زیات لیری والی لیدل کیږی چی داکثرو مشابه معناوو لپاره د دواړو خلکو په ژبو کی‌دحیرا نتیـا ځای شتـــــه .

داچی دمختلفو ممالکو دمتلونوترمنځ تشابه شته ترپور تنیو تشریحا تو اضافه ضرورت نه لیدل کیږی ـپه‌دی باید قانع واوسیږو چی هغه متلونه چی دخلکو داکثریت او دهغوی د عقاید وسر ه ورته والی لری له یـــــوی نقطی څخه منشا اخلی . په دی کی هم شك نه شته چی ځینو متلونـــــو بین المللی شهرت ګټلی دی او ډیر زیات متلونه شته چی په مختلفـــو ژبو کی رواج لری . دمتل دمنشا دپلټولو لپاره دا کفایت کوی چی دعامو خلکو داذهانو څخه څه چی منعکسوی بهتر ینه منشا یی بللی شو. او ځینی

متلونه دومره پخوانیدي چې اصلاً دهغی ریښې نه شو پیدا کولی ، خودومره ویلای شو چېدا متلونه د پیړیو پیړیو راهیسی د انسانانو په ژوندانه پورې تړلی اونسل په نسل انتقال شوی دی .

پښتانه ، هرڅوک چې دی ،دوی پخپله هم دتولو ښو اوغوره متلونه جوړونکی دی خوځینی متلونه دلفظ له مخې ډیر نازکخیال اوښکلی لیکل شوی دی چې د بشری زړه غوره کارونه اوښه معلومات منعکسوی . دهغوی اصلی مفهـو م متاسفانه زما په ژباړه کی (دمولف نقلقولدی) نه بریښی، اوداسی ښکاری چی دا متلونه دیوه پوه او عالم سړی علمی مقولی دی،نه دخلکو د اذهانو انعکاس. داهم واضح ده چی دامتلونه چی دعلمی مقولو په شکل مـروج شـــوی دی اود پښتنو خاص خصوصیات نه ښئی د ځینو ملایانو، عالمانو ، سوداګرو او حجاجو په واسطه له نوروځایو څخه راوړل شوی دی . په دې پروسه کې دنورو قبایلو متلونه هم یاکټ مټ رانقل شوی دی اویاڅه تغیر اوبدلون په کې راوستل شوی دی ترهغی چی دهماغه قبیلی دخاصوضرورياتوسره تطابق وکړی. ددی نظریی په تائید سره زه باید ووایم کله چی مادبنو دمنطقی متلونه راټول کړل اوڅه نه و پاتی، نوماته دخوست دمنطقی متلونه راورسیدل اوځینی نوریی له پیښـو ر څخه لاس ته راغلل، هغه هم کله چی ما وځیړل یاتکرار او اویا داچی زاړه متلونه په نوی لفظی شکل بدل شوی وو .

متلونه پښتنو ته دومره ارزښت لری لکه د انجیل عبارتونه چې مسیحیانو ته د قدر وړ دی . او د خلکو د ژوندانه لپاره دا متلونه د قاعدی اوقانون مفهوم لری. څرنګه چې د یوه متل څخه ډیر زیات مفهومونه اخیستل کیږی نو یو متل په څو موردو کې د استعمال وړ دی. حتی کله کله د یوه متل څـخه په متضادو حالاتو کې استفاده کوی چې زه دا قدرت نه لرم چې د هغې علت او سبب بیان کړم .

کومی جملی چی زه یی په لاندی ډول بیانوم ځینییی دمتل په شکل نه شو درجه بندی کولای ځکه چې دا جملی په رواجی شکل د بی سوادو خلکو پـه خولو په ورځینی ژوند کی استعما لیږی چی د لفظلـــه مخی اکثره یی ډیری سپکی کلمی دی . موږ که کله له کتاب څخه یوه مقوله یامتل اقتباس کړو یو بی علمه اوبی سواده سړی دموضوع په ارتباط له خپلو مغزو څخه یـوه داسی جمله راباسی چی مفهوم یی کټ مټ دغه شان دی او دایومتل دی چـی دشعار اومقولی په اندازه تول لری. دپښتنو دژوندانه درواج سر ه سـم دپښتنو ځینی غوره دو دونه اودهغی په ارتباط متلونه وړاندی کوم :

## گدایـــی

که څه هم گدایی دپښتنو لپاره له شرم نه ډکه موضوع ده اوگدایی دانسان دحیثیت ټیټوونکی ده،خوسره له دی گداڅی اوراڅی او هری خواتـــــه د یوی گولی ډوډی او تودی شپی تیرولو لپاره په حرکت کی دی .هغه څوك چې په دې ډول روزی پیدا کوی له نیکه مرغه ډیر کم دی. گـدایـان کـه هندوان دی یا مسلمانان خپلی گدایی ته مذهبی بڼه ورکوی، د فقیر او ملنگ په نوم خیر او خیرات ټولوی. په مروتو کې مې نه یادیږی چې چاله ما څـخـه خیر غوښتی وی مگر په بنوکې څو بنوڅیو له ما څخه څه غوښتی دی. مگر پـه وزیرواو نورو غرنیو منطقوکی بل شکل موجوددی کله چې کوم «صاحب» هلته ځی نو کوچنیان مخې ته ورځی او سوال کوی . که چیری کوچنیان نــــه وی حتی ښځی او نارینه هم دا کار کوی .

۱ـ د فقیر چی چیری ښه هلته ئی شپه .
۲ـ که گدا د بل په غولی غرض نه کا سپی به نه که په گدا باندی غرض
۳ـسپی که په خپل منځ کی سره خوری فقیرته ئی یوه وی .
٤ـ د سوال خواږه د پوزی وینی څټل دی .
٥ـ ورك شه هغه ور ورچی له ډمانو غواړی پور .
٦ـ یوه سپی میچن څټله بل ئی کونه څټله .
٧ـ که دی وی خوره که نه دی وی مره .
٨ـ روږدی له پور وړی گنده دی .

## غوری

دا شعار چی « عمل دسړیتوب ملاك دی نه گفتار » دټولوخلکو له خوا دښه متل په صفت دقبلیدووړدی. چی دهغه چادراگرځولو لپاره چی بی ځایه غوری کوی یادیری لافی وهی ورڅخه کاراخیستل کیږی . ترکومه ځایه چی زه تجربه لرم پښتانه له غورو اولا فوڅخه بدوړی ، مگریو ازي کله چی دقوم او قبیلـــی شرف اوافتخار ترسوال لاندی وی، یادنیکه گانواو پلرونو دمیړانی اوتوری په هکله خبری کیږی :

۱ـ هاله به ئی زده شی چی انډول په انډول شپه شی .
۲ـ داسی مه وایه چی زه یم دا سی به شی لکه چی زه یم .
۳ـ چیندخه په لوټه وخته ویل ئی چی کشمیرمی ولید .
٤ـ که خس یم د تا بس یم .
٥ـ مریی لاندی غوره یی باندی .
٦ـداسی مه وایه چی زه یم په جهان کی پیداکړی خدای دسر دپاسه دی .
٧ـ دمچ جنگ به دپك په سر معلوم شی .

۸ــ ژاړه‌عمره ژاړه‌هاله دی‌نه خوړی هزارسوراخی اوس دوچ پلاومحتاج شوی .
۹ــ وړوکی خوله لویی خبری .
۱۰ ــڅه سوی ګی‌څه یی بارګی .
۱۱ــ وطن‌دې لوټ که په تېس اوتېوسه په لاس به رانه شی‌تپوسه .
۱۲ــ له‌خالی لوښی لوی آواز خیژی .
۱۳ــ دغه ګزدغه میدان دی.
۱٤ــ چی په خپله بدائی که له ښاغلیو سره څه لره سیالی که .

## تور او میړانه

جسمانی همت‌په پښتنو کی‌خاص صفت‌دی. دپښتانه په نظر یو زړه‌ورسړی حیثیت اولوړمقام لری‌او ډارن‌هیڅ نه لری. دامتلونه چی‌ماد دی‌عنوان لاندی راټول کړی‌دی ډیرلوړ اخلاقی مقام‌لری چی‌دخلکو په نزد دقدر وړدی .په تیره بیادافغانستان په ټولو ختیزو برخوکی داحقیقت څرګنددی. دښواعمالو اوټولو میړانو په‌هکله پښتانه لوړفکرکوی مګرد دښمن په هکله په دی‌ارتباط غیــر عادلانه نظرلری. د دوی‌په ژبه کی‌د دښمن دتلفظ په‌هکله داسی کلمه نه لری‌چی ددوی دکینی تسکین وشی. ټکی‌دپښتنو په نزدله یوی خوابده کلمه ده خوله بلی‌خوا ددښمن په‌ضد تری ددښمن له‌ضعف اوغلطی څخه پوره‌ګټه اخلی . د دی مثال‌دثبوت لپاره‌دوی حادثی وړاندی کوم :

د۱۸۷۰م کال‌دجون‌په میاشت کی‌سپاهی وژل‌شوی و،ددی منطقی دوزیرو دمختلفو قبیلوخانان اومشران ادوارو راوغوښتل . ددی پیښی په هکله دوی ته وویل‌شول چی‌دایوغیر انسانی‌حرکت و،اوکومی قبیلی‌چی داکارکړی‌وډیر غلط کارواوټکی یی کړی‌ده. هیڅ‌یوه داټکی‌ونه بلله اودا یی حق‌وګاڼــه ، د دوی دا استدلال‌و چی‌دمړی‌دقبیلی په مقابل‌کی دا دمیړانی حرکت واو یواځی غچ اخیستل شوی‌دی .

همدارنګه د ۱۸۷۳ م کال‌په اوړی‌کی د درویشخیلو او مسودو وزیرو تر منځ‌جګړه وشوه د درویشخیلو یوی‌لویی ډلی‌دمسودو څوتنه شپانه چی یــوه ښځه هم پکی وه ووژل ،او دوژونکو ډله کله چی‌بنوته راستانه شول‌ددښمن دبی غیرتی‌په هکله یی‌خبری کولی‌اودا بریا لیتوب ئی‌لوی افتخارګاڼه اوښه ولجه ترلاسه کړی‌وه. دپښتنو رواجونه دمیړانی، توری او غچ په هکلــه خاص ارزښت لری :

۱ــ چی دتوری ووزی یی سوروی ،هغه په تنده نورووی؟
۲ــ یوپه شل اوشل په‌خاورو .
۳ــ توری یاباتورو هی یایی له غمه سور وهی .
٤ــ لیوه چی سورکیږی ګنده کیږی .
۵ــ پنهی په پښوکی څرګندیږی اومیړه په بدوکی بلنګ کیږی .

٦- توری ته گیډی نیسه ، خبروته تندی نیسه .
٧- دمیړه خوی ، دزمری زړه غواړی .
٨- دتوری ور وري خوږه ده
٩- میړه په عمل ښیروه‌غټ‌او ووړیی‌مه ښیروه.(میړه په عمل گوره،غټ‌اوووړیی‌مه گوره )
١٠- توری په پیڅ وهلی شی .
١١- میړه چی میړه وی لوریی چاړه وی .
١٢- په تورو مړشی زویه ، نه چی دښمن‌ته غړشی زویه .
١٣- زمری‌ماته وکی ، دگیدړ هم په ښه شی .
١٤- بار چی‌خر نه وړی نوپه‌خپله به ئی وړی .
١٥- زه‌دی بوره یم خوچی میدان پری نه ږدی .
١٦- چی وتړی برگونه ، مال یی نه خوری نور میړونه .
١٧- چی‌په یوه تیرشی په بله شیر شی .
١٨- چی اختیار دجنگ لری پوښتنه په څنگ لری .
١٩- لاری ډیری دی د میړو لار یوه ده .
٢٠- میړونه که دخدای نه دی بی خدایه نه دی .
٢١- ننداری باتور دی .
٢٢- که ته دورغړیی زه د ځنگل یـــم .
٢٣- لوټه له بوړی سپی نه خطا کیږی .
٢٤- د میړه یاترپ دی یا یی خرپ .
٢٥- چی‌سر نه وی گودر نه وی چی زر نه وی خطر نه وی .
٢٦- د میړه خو ډول گوره توری خو سپی سړی وهی .
٢٧- اغزی چی تیره وی له کمه ځایه وی .

## طبقه او کلیوالی ژوند

طبقه دپښتنو ترمنځ‌ترټولو زیات‌د یادونی وړده .، ښوځی اومروت په دی برخه کی‌افراط کوی‌کله‌چی‌دطبقی په هکله‌خبری‌شی دوی‌له نورو طبقو څخه **که څه هم دد وی په منځ کی‌او سپږی ځان‌بیلوی څرنگه چی‌څـرگنـــده ده** دغرنیو سیمو خلك په تیره بیاوزیر او بیټنی په‌دی وروستیو وختو کی پـه کرهڼه بوخت شوی‌دی نودمصروفیت په اساس له حسادت څخه یـواندازه منصرف شوی دی .

خالص کلیوالی متلونه ډیرقوی دی اوزیاته مشاهده اولاربښوونه پکـــی **ښکاریږی او په لنډو جملوکی ادا کیږی :**

١- ختك که ښه سوار دی دیوه وار دی .         ( دمروتو متل دی )

۲ـ یاری له هرچا سره ښه ده بی ختکه (پیټختکه) .
۳ـ ددهرمسال متهه بی له چوتی نه وی .
٤ـ دمغل زور په دهقان، د دهقان په ځمکه .
٥ـ دهندکی که نور دبدولاس نه دررسی خوچی په لار ځی پسکه به دروکه ( دبنوځیو متل دی ) .
٦ـ هندکی چی که په اوبو ډوب کړی ... به یی وچه پاته شی.
۷ـ تور مارمه وژنه اوتور جټ مړ کړه .
۸ـ چی اوبوته وایی پانی سریی لاندی کړه ترکانی .
۹ـ د هندوانو ګړیدل څه دی؟ موتی موتی نیول موتی رنګول .
۱۰ـ اور اوبه سره شریك وی خو نه له هندوانو سره .
۱۱ـ هندوچی دیوالی شی نو زړی پوټی را واخلی.
۱۲ ـ دهندو چوکه دلدو په اخیر پا کیږی .
۱۳ ـ دسك اصل په ویښتو دی .
۱٤ ـ وزیر که منده کی خپله . . . به برمنده کی . (دبنو خــــو متل )
۱٥ـ له ... عقل د تنهی تاروپټ کړی دی.
۱٦ـ دهندو چوتی ... دځیرول دی.
۱۷ـ سل د وړ دیوه لوړ .
۱۸ـ ځدراڼ دغره لیوان په بنو راوړی تاوان .
۱۹ ـ د . . . او دس په تیز نه ماتیږی .
۲۰ـ سرګړی په وشکی مه ګنه دغره سړی په سړی مه ګڼه .
۲۱ـ ډول په سمه واهه ، بیتنی په غره کی ورته ګډیدل .
۲۲ـ باور مه کړه دمغل په کاغذونه ، دمغل اول کاغذ پسی پوځونه .
۲۳ـ چی په هندو شه په کنډو شه .
۲٤ ـ سل بیتنیو سل پسونه وخوړل .
۲٥ـ له ژوندی کونډی نه مړ کونډی ښه دی .
۲٦ ـ ختك سړی چرګ دی که ورویی نیسی کوړ ککیږی که په زوریی نیسی کوړ ککیږی .
۲۷ـ مروت خربه لره په ګیډه ئی ډك پښی ئی سوده لره .
۲۸ـ که ګدران دی په کار وی پیشوګان مه تله .
۲۹ـ کری غل و میرو خیل یی مل و.
۳۰ـ ببرڼ په پردو اوبو شیوه کوی . (دکوم خوړ نوم دی چی همیشه دګرمی له دریا به څخه اوبه ورځی )
۳۱ ـ دمسافر په خواری مرګه *لاس ئی بالښت وی خوله ئی ډکه وی له ګرده مسافر مه شی زما یاره چی مسافر شی ځوك بـه ځای نه در کــوینــــه
۳۲ ـ که ډیری شی ښادی داسی به نه وی لکه پی .
۳۳ـ له نه وومیړو ، ملك شو بلو .

۳۴ـ ترخوپوری چی زوی اولور په کوي‌تیرنه وی‌موراوپلار یـــــی خپل نــه بـــولـــی .
۳۵ـ له مړه وروره پریښی کومله ښه ده .
۳۶ـ که شولی اسانه وی نوما نجه به خوړلی .
۳۷ـاو به دسیلی ، نغن د مروت.
۳۸ـ ورځ دښو شپه دمروت.
۳۹ـ دلمر تاووهلی رغیږی اودسپوږمۍ تاووهلی نه رغیــــــږی .
۴۰ـبنو نیازی په بد راضی .
۴۱ـ هغه به دوړ نه وی چی پلویی غوړنه وی.
۴۲ـ څه خان نور خان شوی چی دجونکیو خولی تړی.
۴۳ـ متوزه له پوزی سره وزه له شیرك سره.
۴۴ـ غرننك وخوړ دامان قلنگ وخوړ .
۴۵ـ لښکر که دپلار وی هم بددی .
۴۶ ـ بنگ به لرگی نه شی بنگیخیل به . . . . . نه شی .
۴۷ـ که پلار دی جټ وته جټکی یی .
۴۸ـ دك نس . . . وایـــــی .
۴۹ـ دایمان زوال دروغ دی دتوتو زوال دوغ دی .

## گډه مرسته

داشعار «وحدت قوت دی» دهر چا له خوا د حقیقت په شکل منلی شوی دی، حتی هغه څوك‌چی سوادنه لری هم په‌دی شعار باندی عقیده لری. په هند کی‌به که‌چاوپوښتل چی‌ولی تاسی‌بریالی یی‌دیوه دهقان ځواب هـــم داو چی اتفاق او اتحاد . همدارنگه که دیوه پوه پښتون څخه به پوښتنه وشوه دپښتنو دمشکلاتو په هکله به ئی ویل چی هرپښتون دعوه کوی چی سر وی او په سر باندی سرونه لری . که څه همد گډی مرستی ارزښت ټولو تــه څرگندی‌دی خو بیا هم د ډیرو سره په عمل کی په دی هکله څه نه شته .
۱ـ چی نسونه ئی گوښی وی ، نیتونه یی گوښی وی.
۲ـ دیوه سپاره (سواره) به‌څه دوړه وی
۳ـ غویی دوښو په‌زور چلیږی اوهل دمټ په زور .
۴ـ چی‌زه اوته راضی نور څه دی دقاضی .
۵ـ میاشت که یوه ده ورځی ئی ډیری دی.
۶ـیوپه سلو درلی شی نه سل په یوه .
۷ـ دیوه لاس نه ټك نه خیژی .
۸ـ چی څپرونه دریږی غور یږونه کیږی .

## ډار

په دی هکله دهغه چا یادونه کیږی چی لاخوږ شوی نه وی او ژاړی ، اوکله چی جنګ سوړشی نو ډارن سړی توره را واخلی او خپل ځان دربا ندی وژنی. یاداچی یوسړی ترغابنو په وسله سمبال وی اوچیغی وهـــی چـــی زه خود دفاع لپاره څه نلرم ـ دپښتنو په نزدتر هرڅه سخته کلمـــه داده چی چاته د «نامرد» خطاب وشی .

۱ـ خوله ئی په اوګره سوی وه اوز ګروی ئی دزنکدن (ځان کندن) کاوه.

۲ـ چی نامردو آسونه وکړل نو اول یی په خپل کلی وتر پول .

۳ـ چی‌جنګ سوړ شه مریی تود شه .

٤ـ نامردان دمیړو لاری وهی.

٥ـ سپی چی ایسارشی غول کوی میړه چی ایسار شی توره کوی .

٦ـ لښکر که ډیر وی بی سره هیروی.

۷ـ خوار چی له ژوری تیر شی بیائی څه ډار دی.

۸ ـ چی رنګ دی په قصه زیړشه نوتوروته مه ځـــه .

۹ـ ترورړی ویل چی‌سل‌قحطی به په ځان تیری‌کړم اودسپی‌مخ به ونه ګورم.

۱۰ـ که غوټی کړی په چرګو ړو، په دی بازنه شوی ټپوسه .

۱۱ـ نه ښځښتن خبریده اونه سپی غپیده هسی غل و ټښتیده.

۱۲ـ چی نن سپك شی سبا ورك شی.

۱۳ـ ښځښتن حیات مال‌ئی مرات.

۱٤ـ توره په ښځنګ کی کوتك غواړی .

۱٥ـ نه دمیړه تور شته نه دنامردپیغور شته .

۱٦ـ خردفقیر مړشه او په ویران دکلی سپی شول.

۱۷ـ ډار او شرم زوی‌او پلار دی.

۱۸ـ خراړی له یوه ګذاره ولاړی .

## نـــرخ

هندوان وایی « دنرخ ماتول دهرڅه ماتول‌دی.» پښتانه که څه هـــم ددی پیروی نه کوی اود پخوانیو رواجونو دومره کلك معتقدنه دی خو بیاهـــم دنرخ او رواج په هکله متلونه لری . دمذهب په ارتباط متلونو ته زیـات قدر ورکوی او دنورو ټولنیزو چارو په هکله ډیر آزاد فکر لری ،پښتانه کله‌چی قانع شی دنوی طرفداری کوی او زاړه پسی نه ګرځی .

۱ـ له کلی وتښته له نرخه یی مه تښته .

۲ـ نوی چاری په زړی لاری.

۳ـ چی چیری اوسی په مذهب به دهغو شی.

٤ـ مه ځه په هغی لارچی نه دی مورپری ځی نه پلار .

٥- بیل وطن بیل یی چلن.
٦- له ډیر وسره څه له ډیرو سره خوره .
٧- چی نه دی و دپلار اودنیکه اوس دی نوی ونیوه .
٨ -سر که لاړ شی عادت نه ځی
٩- یوه کده دبلی کډی زړه کاږی .

## مـــړینـــه

١- که گور زندان دی دمړی ناکام دی.
٢- مرگ حق دی گور کفن په شك دی.
٣- چی مړشه هغه پړشه .
٤- چی مرگی شته ښادی نه شته .
٥- پټ به پاتی نه شی چی ترخاورو لاندی نه شی.
٦- خپل گور هرچاته تنگ ښکاریږی.
٧- مرگ نه په واړه دی نه په زاړه.
٨- چی یو مړنه شی بل موړ نه شی.
٩ -که نه وی بیر مې په هرچا به آبادی وی خپلی بسیبی .
١٠- دمړیو لاوړاندی په قیامت رضاوه .
١١- دی به وروستو ایمانداره بولم که یی ځان کندن (زنکدن) په خیر تیر که
١٢- مرگ هم دډیرو پرده ده .
١٣- جنت ښه ځای دی خو ورتلل دزړه په چاودل دی .
١٤- په ډك نس مرگ ښه دی له هغه ژونده چی په لوږه سره وی .
١٥- بابالاړ تبه یی پریکړه شوه .
١٦- پخواله اجله مه مره .
١٧- ورك خوهغه شی چی مړشی .
١٨- څمکه وایی که په تاکی گناه نه وی له مامه ویریږه .
١٩- زاړی هرڅه ښه دی بی له مرگه .
٢٠- چی زماترسر شی تیره، خدایه مه کړی دنیا ډیره .
٢١- که دیعمر شی زرکاله * اخر به ومری ځما لاله .
٢٢- مه می چاته پاتی کړی ، مه دچارا پاتی کړی .
٢٣- تنگ دی خدای قبرهم دچانه کا .
٢٤- که نه مری له خواری اخر به ومری له زړبو دی .
٢٥- مچ ویل که د پیغلی په مخ ومرم مړنه یم .
٢٦- خو بیدلی دمړه ورور دی .

## دښمنـي

١ـ دتربرو غاښ په تربرو ماتيږي .
٢ـ دښمن دی که دلوخو پړی وی ماريی بوله .
٣ـ رالويدلیدلو غروله سرووروغ شي* نه رغيږيچيدزړوتر آزارپريووت.
٤ـ کانی به پوست ، دښمن به دوست نه شي .
٥ـ بدسړی ته ښی خبری وايه په ورو ورو .
بيخ بنيـا ديی وبـا سـه لـه سـرا يه ورو ورو
٦ـ خواږه دخښتن پخيږی اوکون دوينځی خوږ يږی .
٧ـ مارهمپه دښمن وژنـه .
٨ـ دپښتانه بدی دسری اور دی .
٩ـ چی کهول شي بی فرمانه ټول ئی واړه شي کريانه .
١٠ـ چی ديوه سود کيږی دبل کور نړ يږی .
١١ـ دښمن دليمخی اغزی دی .
١٢ـ دغلو وروری خوږه دهخوپه ويش باندی جګړه ده .
١٣ـ دباهر بدی ورکه شي اودکور بدی نه ور کيږی .
١٤ـ خواږه خواږه به درته وايی وژورته به دی بيايی .
١٥ـ چی ددوو سره جګړه شي ددريم په کی ښه شي .
١٦ـ چی دخدای ويره نه ویدغزه پناه دغره پناه .
١٧ـ چیکلی دوه شي دچوغلو ښه شي .
١٨ـ پور دبدی تخم دی .
١٩ ـچی څرك يی لـه کوره وی خو نه يی خوره وی .
٢٠ـ چی نه دی وی په خواهغه تاته شي بلا .
٢١ـ تربور خوار لره خوپه کار يی لره .

## کهـول

پښتانه دکهول په هکله ډيره خاصه عقيده لري. که يوتبر ډيرو وړهـم وی خپل کهول اوتبر ترټولو نورو پورته شميری اودخپلو نيکه ګانو پـــه نوم وياړی . پښتانه په کهول او ټبر کی دمشرتوب او کشرتوب موضوع هم په کلکه ګوری ،تجربیدویته دادرس ورکړی دیچی کهول بايد مشـــر ولري اوهر څوك دهغه اطاعت وکړی .مشران دپښتودنرخ او رواج لـــه مخی مسايل څيړی اوحلوی ئی . دمشر صلاحيت ته ټول درانه ګوری .
١ـ له نااهله دو فا طمع ومه کړه * ګنده نلبه نيشکر نه شي هرګـــز

۲ ـچی نه وکړی پیدۍ زوی به نه را وړی هـــو ډی .
۳ ـعراقی آس په خړو جا مو کی ښه لیده شی
٤ـ دفصل خواریم دا صل خوارنه یم .
٥ ـله ښه پلاره له ښی موره بلا وزو وله توره .
٦ ـعاقبت به دلیوه زوی لیوه شی .
۷ـ دغله سپی زوی که غل نه وی ځو سن خو وی .

## تقدیر نصیب

۱ـ نصیب کته کړی خردی چی چیرته یی بیایی هلته ځی .
۲ـکه ته لاړشی تر کابله برخه به ځی درپسی خپله .
۳ـ برخی ازلی دی نه په زور نه په سیالی دی.
٤ ـکه ستا قلم زما په لاس وای +ما به ستا لیك په نیکبختی وهلی ؤنه .
٥ـ بی نصیبه خواړه گران دی.
٦ـ تقدیر تدبیر پوری خاندی .
۷ ـوزه له لیوه تښتیده دقصاب کره یی شپه شوه .
۸ـ له رام نه تښتیدم په کام واوښتم.
۹ ـکه ټول جهان طبیب شی چاری واړه په نصیب شی
۱۰ ـله خپلی برخی تیښته نه شته له پردی برخی ویش نـــه شتـــه
۱۱ ـسپور دیداسی نه وائیچی پلی به نه شم او پلی دی داســی نه وائی چی سپور به نه شم .
۱۲ ـشپه چی په کور وی‌په گور به نه شی چی‌په گوروی په کور به نه شی.
۱۳ـ چی‌خدای کوی هغه به‌وشی خود اوښ گونده ټینگه وتړه .
۱٤ که په نصیب قی درغی غاښ پری ټینگ کړه .

## ملگـــر تیـــا

دلاندنیو متلونو متن د ملگر تیا په هکله خاص او خالص تون لری. یو سړی دملگری په انتخابولو کی باید بیړه ونه کړی .کله چی دچا ســره ملگر تیا ونیسی نود ملگری شرف او حیثیت دخپل دشرف په شان په درنه ستر گه گوری او ساتی ئی ، اود ملگری په مقابل کی هری قربانی ته حاضر وی. دحقیقی او مطلب اشنا ملگری ترمنځ باید توپیرو ښودل شی. او کلــه چی په ملگر تیا کی‌کوم ټگی راشی‌نوپه هغه ارتباط هم‌متلونه ویل شوی‌دی.
۱ـ یارنیسه تر کاله ئی کسه ، که برابر شه غیږ ورته نیسه اوکه نه شته ځان ځینی نیسه .

۲ـ چې بې‌ذاته اشنائی که + اور به بل په خپل تندی که .
۳ـ یار په کوځه تیر کړه رنګ ئی هیر کړه.
٤ـ ورکه شی کمبلی چې نه دبادئی نه د باران .
٥ـ ښه قصه بل ته کوه ښه خواږه خپل ته ورکوه .
٦ـ یار دی وی په بل دیار دی‌وی .
۷ـ زوی زړه دی وروړ لیمه دی لمسی دهډ مازغه دی.
۸ـ زوی له زړه دنیا له پرینه تر زوی لادنیا شیر ینه .
۹ـ چې له یاره وایی له ځانه وایی .
۱۰ـ دغو ښتو دارو ورکړه دی .
۱۱ـ چې له یار سره یاری لری عیب ته یی مه ګوره .
۱۲ـ دوست په تنګه کی خرګندیږی نه په خورنه کی .
۱۳ـ چې زلزله وه تړنده‌ی دی رانه کړه اوس یی خپلی مورته ورکړه .
۱٤ـ ویل دخدای دپاره کوه او لوږ دیار لپاره وهه .
۱٥چې زما اوستا بایده دی لری او نژدی څه دی .
۱٦ـ خپل خرتړلی ښه دی که غل اشنا وی .
۱۷ـ خپل به دی‌وژړوی او دښمن به دی وخندوی .
۱۸ـ چې نه دی وی له موره داسی مه وایه چې وروره .
۱۹ـ هله به در زاریږم چې له چاری وزګار یږم .
۲۰ـ لایار شه لا بیزار شه .
۲۱ـ آشنا ښه دی که خوږونکی سپی وی .
۲۲ـ که ښه یم له یارانوسره یم .
۲۳ـ وروړ وروړ ته نه ګتی مل مله ته وګتی .
۲٤ـ تړ کوره وم درسره تر ګوره نه یم درسره .
۲٥ـ چې سپینه غوایی ختی او توره یی نه ختی خوله یی وچه شه .
۲٦ـ بریښنوه‌که یی بریښنوی چې بده‌ترکمر پریوزی‌بیایی څه ته بریښنوی.
۲۷ـ تربوردی هغه دی‌چې‌سبادی کور ځیروی‌بیګاه دی‌اور ځیـروی.
۲۸ـ اشنایی په اصل ښه ده نه په بی اصل .
۲۹ـ له کم عقله هوښیار دښمن ښه دی.
۳۰ـ خپل دی که مړ کړی سوری ته به دی واچوی .
۳۱ـ غوښی او نوك نه سره جلا کیږی .
۳۲ـ چې نه منی دیار پندونه په سر به تل وړی دغم بارونه .
۳۳چې خپل زړه بدنه کړی پردی زړه به ښه نه کړی .
۳٤ـ تربور دی که خر وی لته مه پری اړوه .

۳۵- پیغله که توره وی هم کور می تری زار شه .
۳٦ یارمی تور دی توری گوړی لاتوری گوړی دپریکړیو دارو دینه .
۳۷- چنه دی وی خو په مینه دی وی .
۳۸- د پردی آس سواری ترنیمه منزله وی .
۳۹- زړه خویو دی چی ملال شی پسه نه دی چی حلال شی .
٤۰ -...چیدی وپیژنی وبه دیخوری اوسپی چیدی وپیژنی نه دیخوری .
٤۱- دین دوستی خیرول دی .
٤۲- په یاری کی تل ځولی ماتیږی .
٤۳- ځان ته گوره ملگری ژغوره کم یی مه بوله له وروره .
٤٤- دوه به سره خپل شی که دریم په منځ کی نه وی.
٤۵- یاردی دسرخیر غواړی ورور دی د مال .
٤٦ -په پنده کی دیهم سجن اوسه .
٤۷- هر څوك په ښیورځی کی دوست دی.
٤۸- که په تا باران وشی په مابه څاڅکی پر یوزی .
٤۹ -چی یاری کوی هغه خواری کوی .
۵۰- څوك چی ستا په مینی کیوماته که پندونه .
نه دی چانیولی اباسین په لوی بندونه .
۵۱- له غله سره یاری لره خپل لندی خوندی لره .
۵۲لولی ته چاویل چی یاردی مړشه ویل ئیچی دکوم کوځی .
۵۳- وروری وروری حساب له میانه .
۵٤- په تله راتله نه شی څو دزرد ختمی نه شی .

## خدای پاك

خدای پاك ژوندی ، لامکان اوهر چیری موجود دی ،خدای دانسان اعمال گوری ا وسره‌له دی ئی انسان ته د عمل آزادی ورکړی ده.او انسان ته ځان دخدای پاك په نزد ناتوان ښیزدی او پر خدای پاك باندی متکی دی .

۱- څوك چی خدای شرموی داوښ دپاسه ئی سپی وخوری.
۲- سړی چی خدای نه ښایسته کوی نوسترگی ئی شنی که .
۳- چی لوړیږی کور یی نه نړیږی.
٤-دچتری هم خدای دی دباز هم خدای دی .
۵- خواره هغه خوری چی خدای پری خوړلیوی نه چی خوله یی ستریوی.
٦- لمبول یی په مادی او بښل یی په خدای دی .
۷- روزی له خدا یه ده نه له روزی.

۸ـ ژرندکړی خدای خوار کړی څټه پروته مزدئی خوړلی.
۹ـ چی خدای نه که بنده څه وکه .
۱۰ـ دبنده مخ د خدای له نوره دی.
۱۱ـ خدای به وی یاران به نه وی.
۱۲ـ په ښیره په دعانه شی، کړونی خدای دی.
چی خدای نه کاښیره څه کا دعاڅه کا .
۱۳ـ که خدای قادر دی هم ، په شنه آسمان وورول نه کوی .
۱٤ـ کارونه دخدای په کړه شی نه د ملا په خوله .
۱۵ـ میړی چی خدای ورکوی نو وزر ورکه .
۱٦ـ بسم الله ویل ثواب لری نه دګیدړ دښکار لپاره.
۱۷ـ کم د لوی په هیله او لوی دخدای په هیله .
۱۸ـ غلهم وائی خدایه کور به هم وائی خدایه
۱۹ـ ته می وزی وهه زه به دی روژی وهم.
۲۰ـ هومره به شپه نه کړم څو دخوار زیرمه ونه کړم .
۲۱ـ چی خدای ورسره بدشی دستی له شرعی رد شی .
۲۲ـ بنده مه او سه غره خدای له هر چادی سره .
۲۳ـ ړانده ښځه په خدای سپارلی ده.
۲٤ـ چی خدای ئی ساتی دپیشوګامن په آوی کی وساتی.
۲۵ـ چی نه ورکوی مولا څه به ورکوی دولا .

## ښه څیـــره

دیوه پښتانه شخصی نظر دښکلا په هکله زیات دی. اونه غواړی چـــی د طبیعت په ښکلاکی بدلون راولی.
۱ـ میره کوتی ورسپی څپړه ور .
۲ـ سړی یو رنګ جامه دوه رنګ .
۳ـ خیال هم خواری غواړی.
٤ ـخیال په برمنډه نه شی .
۵ـ څو کړی ګیره دچړی لایقه ده.

## ښی او بدی طالع

۱ـ له شنو سترګو ړوند ښه یم .

۲ ـ خوار خپله خواری نه کړی چچکی نیسی .
۳ـ غل هم زور اور ، بخت ئی هم زور اور .
٤ـ اوبه په اوبو وورړی.
٥ـ دکونډی دوه غوایه وو ، یووت نه ، بل ننووت نه .
٦ـ سم دکونډی زوی وشه او سم په کلی رنځ گډشه .
۷ـ بخت یا په پتی دی یا په کوټی.
۸ـ بیړی په بخت چلیږی.
۹ـ ټکه هر چیرته دخوار په کور پریوزی.
۱۰ـ خوار دلی هم خوار په هندوستان هم خوار.
۱۱ـ کم بخت چی منډه وهی په خولی پرزی.
۱۲ـ دکم بخت شرعه له قاضی سره وی.
۱۳ـ کار چی بی وخت شی بی بخت شی.
١٤ـ چاچیورځی شی کړیورته بلاشی خپلی وزی.
١٥ـ له میږه سره سیالی شی اوله بخت سره ئی نه شی.
١٦ـ چی بخت ئی یارشی کور ئی بازارشی چی بخت ئی خوارشی کورئی ناتارشی.
١٧ـ سل ورځی تخت ښه دی که یوه گړی بخت نه یوه گړی بخت.
١٨ـ یو ساعت بد دسلو کالو رنځ.
١٩ـ خوار ته مه ورکړی نوکان چی پری وگروی ځان.
۲۰ـ خوار ته مه ورکړی بزه چی ئی ونیسی ترپښه .
۲۱ـ چی خدای ورسره بد شی په باران کی خړی ورشی.
۲۲ـ چیرته لور چیرته لنگی که دخوار نه وی کم بختی.
۲۳ـ دښمنتن چی کم بختی وی سپی ئی نیم خوبی وی.
٢٤ـ خواروبلوسیړی بختورو پوهیږی .
۲٥ـ چی دا دسویو اوتاك دی اودادشپانه لوړدی یوه ورځ به سره واوړی.
٢٦ ـ یتیم ټوله ورځ روژه نیولی ماښام ئی په ماته کړه .

## ښیگـــړه او بــد گـــړه

دا موضوع خاص اهمیت لری. هغه څوك چی صادق وی او بی الایشه مرام په نظر کی نیسی بی له ویری اوترس څخه نیك کارونه کوی او په ښیگړه یادیږی . برعکس ځینی خلك چی بدنیت اوشوم عمل ولری تل دخلکو پــــه ضرر کار کوی اوپه خپلو بدوکی کله کله دومره ګړندیتوب کوی چی شرم او حیاله لاسه ورکوی . کوم متلونه چی دښیگړی او بدوگړی په ارتبـــــاط راغلی دی ښه او بــد دانسان د اعمالو او کړو په هکله ښه څرگندوی:
۱ـ په بدو کی صبر کوه په ښو کی تلوار.
۲ـ زر چی پاك وی له اور ه ئی څه باك وی.
۳ـ اسلام تر توری لاندی دی.
٤ـ که بدکوی آخر به پښیمانی کوی .

٥ـ ښه دی هغه دی چی ښه دی لری.
٦ـ راست اوسه بیا ملاست اوســه .
٧ـ ښه هغه دی چی آواز ئی دښو وی.
٨ـ په ښه خوی سره پردی عالم خپلیږی
عمر خوی دبدو شه ځکه خپل تری پردی کیږی .
٩ـ سړی په خوی سره ښایسته دی په رنګ خومښه غونه ښایسته ده .
١٠ـ نیکی ته مخ کوه بدی ته شا .
١١ـ ډاك شه په ډاګ پریوزه له ډاګه هیچاڅه وړی نه دی.
١٢ـچی دقوم کمه غواړی کمه به ئی خپله شی.
١٣ـ چی نیت‌ئی بدیږ یملت ئی بدیږی .
١٤ـ نه دکاسیر سترګی دریږی نه دغله لاس .
١٥ـ توره مړه‌ښه دی پیژنم چی لم دی سپین دی .
١٦ـ چی شپه تیاره شی بدان تیره شه .
١٧ـ چی بد ګرزی بد پرزی.
١٨ـ سوډرته چاویل چی‌ولی‌دی‌خلق سوډربولی ویل ئی‌چی‌داټول‌می‌ورونه دی ناز را سره کوی .
١٩ـ مه وخوری هغه خراړه چی دی وخیژی ترغاړه .
٢٠ـ دچریکی بکا دلیوه خندا ده .
٢١ـ روزی مړشه عمر پړشه .
٢٢ـ چی کلی په نامه لری یو خوی له نورو ښه لری.
٢٣ـ زر چی چیرته وی هلته ئی قدر وی.
٢٤ـ سپین په تورو کی ښه بریښی.
٢٥ـ بلانه له مزکی نه له اسمانه له خپله ژبانه .
٢٦ـ دنیکی تخم بدی ده.
٢٧ـ هاتی چی ژوندی وی یولاك و اوچی مړشه دوه لاکه شه .
٢٨ـ چی نه خوری لوږ وخوری.

PROPERTY ACKU

## بیړه او صبر

ډیر وخت داسی ویل شوی دی چی دبنو دمنطقی خلك داستراحت طلب اولټ ژوندانه خاوندان‌دی اود ورځینی فعالیت داجرا له مخی معلومیږ ی چی وخت‌ته ارزښت نه ورکوی. دجاری‌منطقی تودوخه ددوی په طبیعت‌کی‌څه رول لری‌ځینی‌نورعوامل‌هم‌شته چی‌په عمومی ډول‌ددوی په ژوندانه کی لـږ څــه تاثیرلری خو دومره مهم نه دی،نوځکه ختیز متلونه تل صبر او حوصلی ته درانه ګوری په چاروکی بیړه نه ستائی ، مګر له دی‌سره‌سره باید هیرنــه

کړوچي پښتانه تکړه ، غښتلي او چابك خلك‌دي. دكارو دژر اجرا لپــــاره تشویق ته ضرورت نه لري.
۱ـ تراوبو وخته کالی کاږی .
۲ـ چي تر کاله شي تر خدایه شي.
۳ـ فرصت رحماني دی . بیړه شیطاني ده .
٤ـ دمكي تگ په صبر لنډ يـږی .
۵ـ بیړه سپي کوی چي ړانده کونگری زیږوی.
٦ ـدومره سهيده چي وروغو مي‌ستريدل او دومره نه‌سهيده چي سبزي پخيـــــدل .
۷ـ چي وسهيږی و سوديږی.
۸ـ پاك وار كه ، ناپاك گذار که .
۹ ـ ولي ډار يږی‌پی په وار ماسته کيږی .
۱۰ـ چي باغ پوخ شه باغوان کوږ شه .
۱۱ـ صبر تریخ دی میوه خوږه لري.
۱۲ـ الف ویلی نه‌لام زیرلی .
۱۳ـ بی اوبو مه ډوبیږه.
۱٤ـ انتظار له قتله بد دی .
۱۵ ـغوا حلاله نه‌وه اوكور تلبرئی په سرورته نیولی وه .

## کور

۱ ـکه گرزی گرزی آخر دی ځای ډنگو ان دی .
۲ـ هرسړی په‌خپل وطن کی بادشاه دی .
۳ـ هرسړی ته‌خپل وطن کشمیر دی .
٤ ـسل روپۍ پور کړه دژمی شپی په کور کړه .
۵ـ مسافر ی بده بلا ده .
٦ـ که په کور امیر وی په بهر فقیر وی.

## پت‌او بی پتی

داډیره مشكله ده‌چي‌سړی‌دی دپښتانه په نظر‌دپت اوعزت‌موضوع وپيژ نــی موږته دپښتنو دپت خبره داده چي دکورني ځيني پيښي پتی وساتی ، هغـــه پيښي که څرگندی شي نو هرومرو دكور او كلي په نزد بی پته کيږی او نفرين ورته ويل‌کيږی ،يعني دوی کی‌رواج‌ډیرمهم شميرل کيږی .بنوځی‌دپت اوعزت په هکله ډيرزيات ښکته پورته غورزی. مگر دمروتو خلك‌دومره تشد دنه لري .
۱ـ يارلي دی خړ وی خوچي زه پوری خړ‌نه يـم .
۲ـ په درنو دروند په سپکو سپك .

۳ـ دریاب په لوښی نه وچیږی ۰
٤ ـ کاروان ته که سپی وغاپی دکاروان څه پری کمیږی ۰
٥ـ دریاب دسپی په خوله نه پلیتیږی ۰
٦ـ په سلومی مړ کړی په یوه می پړمه کړی ۰
۷ـ پت ښه دی که لاك ، نه پت.
۸ـ په پت کی تور موسلی ښه دی.
۹ـ مړمی کړه پړمی کړه ۰
۱۰ـ دمیږه لوز گوره دځمکی فصل ، دښځی ښایست ۰
۱۱ ـ ته زماشړی ته لاس مه راوړه ،زه به شال ته دستا لاس نه در وړم ۰
۱۲ـ دریاب په کانی نه خړیږی ۰
۱۳ـ چې نوم یی واخلی‌په ننګ‌یی ومره ۰
۱٤ـ سرکه غټ‌وی هم‌پټکی غواړی ۰
۱٥ـ فقیر کله دسپړی لپاره کند په اور اچوی ۰
۱٦ـ میړه مړکړه او سپکه وه‌یی مه ۰
۱۷ـ څه وهلی څه وژلی ۰
۱۸ ـدسیال دسیال گیری ،جامی‌واغو نده سپینکی ۰
۱۹ ـچی په‌خپلی خورنه شر میږی په بلی نه څه وشر میږی ۰
۲۰ـ بس کوه شامکه په اخیر دی ووهله ۰
۲۱ـ کم سړی ، گناه یی لوی که ۰
۲۲ـ ډم‌چې په ډول‌گه شی بیائی څه شرم وی ۰
۲۳ـ چو هاړی ته چاوویل چی له‌چانه شر میږی ویل‌یی له‌خپله سیاله ۰
۲٤ ـمال‌می تر سر ځار کړی اوسرمی‌تر شرم ځار کړی ۰
۲٥ـ په سوډر پورې‌خپل نوم اور دی ۰
۲٦ـ په زمری می دی وی دگیدړ دی راباندی نه وی ۰
۲۷ ـوز ه چی هم شملی ،ځای‌په پښو پا کوی ۰

## مالداری ـ هوا ـ روغتیا

دامجموعه زیاتره په مروتو پوری اړه لری. ددی خلکودکرنی او مالداری دژوند ښه ثبوت دی.دا ددوی‌پرژوند باندی اغیزه‌لری.کوم متلونه چی‌دلته رانقل‌شوی‌دی ددوی په مالداری ژوند پوری تړلی دی. څرنګه چی‌وزیر په دی وروستیو وختوکی په کرنه بوخت‌شوی‌دی اوبنوڅی دډیرو اوبوپه درلودلو

سره له پخوا کرگر دی نودې موضوع ته کم متوجه دی. د بنوڅیو او وزیــرو د ژوندپروسه تثبیت ده، دهوادبدلون په اثرددوی دژوندجګې اوټیټې تر زیاتی اندازی پوری پیشګوئی کیږی اوپیشګوئی یې هم معمولأ رښتیا ثابتیږی اوپه دی هکله دوی ښه تجربه پیدا کړیده. دځمکې د شدیاری ـ وتري اوکرنی څخه تر حاصل اخیستلو پورې حتی دهرجریب حاصل اونور پیشګوئی کوی. دپسرلی او ژمی دپرله پسی حالت له مخی دوی دخپل ددوبی غلی اندازه د کمیت او کیفیت په لحاظ مخکی له مخکی ښوولای شی .

مګردللمو په باره کې داپیشګوئی نه شی کولای. ځکه دکال هره میاشت ځانته خصوصیات لری او بیل حالت ښئی. ځکه چې (٦ـ ٧ انچه په کال کې) باران هلته ډیرلږ اوبی وخته دی اودهغه چاودهغو ښاروپواونصلونوچی ژوندیې په باران پوری تړلی دی ددی بی وخته اولږ باران په سبب دښو حاصلاتو پیشګوئی نه شی کیدلای .

۱ـ لره دې آباده کړه چی پاته بره شوه .
۲ـ په هل ختلی ښه نه په راشه .
۳ـ په پردیو دروزو باندې ګیډ بنو کړل سره لاندې .
٤ـ که ووهی ګرسټ ته به شی په جامو پټ، که نه وهی ګرسټ ته به ګرزی لغړ څــټ .
۵ ـ چی طمعه دی په ځمکه کړه تومنه دی پری ورکه کړی .
٦ـ شل ورځ کندون کوه یوه ورځ اوبه لګوه .
۷ ـ پولی ته یی هیله کړه هیله دی نهیله کړه .
۸ـ سهیل چې واده که دهرچا جامې به وکه .
۹ـ له موتبی برلو نه شی .
۱۰ـ اوړی که پټ وی په راشه به څرګند شی .
۱۱ـ د پوکر بی وفو . (کوم تخمونه د دسمبر د پنځلسم څخه وروسته وکرل شی نه رسیږی )
۱۲ـ چې په طمع دکرو شی هغه پاته په میرو شی .
۱۳ـ د لوګری چې زړه نه وی لور په لوټه تیره کوی .
۱٤ـ چې په خپله کرونده ګرزی که شیدی وی تول غوړی شی .
۱۵ـ زاړی ولاړوی لکه ښاړی ، بوبړولاړوی خیښتن ژاړی .
۱٦ـ اوبه پنډې کړه باجرې غونډې کړه .
۱۷ـ لازاړی ځامن دی لازاړی غنم دی .
۱۸ ـ چی نه وکاړی نوکه په لاس به نه نیسی روکه .
۱۹ـ چې په ټل روړه وی په تاندو به دوړه وی .
۲۰ـ چې په ټل هستی وی په تاندو به نیستی وی .
۲۱ـ چې طعمه دې په خدای کړه تومنه دې پیدا کړه .
۲۲ـ نالی کرونده د اوښو تاخت دی موتبی کرونده د وزو تاخت دی .

۲۳ـ تاند وبه به دی مور که وچو به به دی سپور که .
۲٤ـ غنم په دښمن کره باجری په سجن کره .
۲٥ـ چې مز که ډکه کړی ډک به دې کړي چی مز که ورنی کړې ورنی به دې کړی.
۲٦ـ په ماتی څه تخم اچوه .
۲۷ ـ ټول کال دې گل گل وه بیا دیوه غوائی غوبل وه.
۲۸ـ چې کاتك کیوزی په نوبلا پریوزی . (دکاتك میاشت داکتوبر دپنځلسم څخه پیل کیږی .)
۲۹ـ اسواړه ده اسو گټه ده. ( داسو میاشت دسپتمبر ۱٥ م څخه پیل کیږی)
۳۰ـ نه تل وی باران نه تل وی فرزندان .
۳۱ـ وسه په وره ده چیتر په غره ده . ( وسه ـ داوری باران ـ چیتر داپریل دشپږمی برسات )
۳۲ـ کیله کیله د خدای په هیله .
۳۳ـ گټغینه کیده لادگره کی ده .(زوړ متل دی غینه کی مقصد ډیر اولادونه گره کی مقصد ډیره کر هنه ).
۳٤ـ تاندوبه کرونده، د گوتو ښتل دی .
۳٥ـ خدای چی مهربان شی په گلو اوغولوئی سم وورری .
۳٦ ـ باران دې په راشه کیږه .
۳۷ـ کرونده دومره ښه ده چیآس پرې ورغړی نه چې پرې وتربی .
٤۰ـ وسه له ښکی سپرلی له پاسه .
٤۱ـ پورب وائی که زه چلیدی ددرښو لاس اوپښی به شنه شول
٤۲ـ چی له ټل سره ئیکاروی هغه تل په غم هساروی.
٤۳ـ ټل خوارکړی تللی بیارته نه دی بیا راغلی .
٤٤ـ چیټل ورك کړی دی دهغو میله نه مونده کیږه .
٤٥ـ دټل کرونده ماته لینده دهٔ .
٤٦ـ له هغی قحطۍ می ژغوری چی اوربشی شیسمسوری .
٤۷ ـ تاندو بی وال لونګۍ زړوی او وچو بی وال شیړۍ زړوی .
٤۸ چی فصل پوخ شی داروئی رودل دی .
٤۹ـ اسو ودی سـو .
٥۰ـ باران خوداسی وی زیات خوتندر وی .
٥۱ـ یوئی کری سلئی خوری .
٥۲ـ چی په آسمان اوره شی مالګه اوبه شی .

۵۳ـ مزکه تول په توکل کوی خومدار ئی په ساتلو کی دی .
۵٤ ـ سپینه وورول کوی توره ډارول کوی .
۵۵ـ څه دې شي په هغه سپرلی چی نه سخی څرېنه وری .
۵٦ـ له شنه آسمانه ووریدل نه شی .
۵۷ ـچی په وقت دګلونه وی بارانو نه *چی بیوقته باران‌وو ری‌څه ئی‌کی
۵۸ـ په اصل ، باران یوښه دی. خوشحاله !
۵۹ـ پګړ پرزوي ، چیترېی لټوی .
٦۰ـ غوښی لاچاړه خوری لائی ساړه خوری .
٦۱ځناوران ځلی و پرزول اونوم دپګړ بدشه .
٦۲ـمالاسپینه څله ژړله چی توری اوبه کړی ګرنګونه .
٦۳ـ دډیرو درمند خرو خوړلی وی .
٦٤ ـچی‌راو خیژی ګوپان بیامه کره مونګان .
٦۵ـ چی راوخیژي تلی بیامه کره کونځلی .
٦٦ـ شولی چی ترنګیږی تبی لنګیږی .
٦۷ـ کرونده آسانه ده پالنه ئی ګرانه ده .
٦۸ ـدپاګړپه دو وژبو غلطه تم شه
٦۹ـ سیلۍ چی الوزی بادئی قاصد وی .
۷۷ ـپه تیرو او بوپسی کورزو ونه وهی .
۷۱ـ په وخت نمو نځونه کوه بیوخته للونه کوه .
۷۲ ـدوریځی دنمر نه می وساتی .

## جهالت او بی عقلـی

۱ـ ختل ئی په توت زده نه وی اوملا کیکرته تړی .
۲ـ کم‌عقل اول ننګ کوی بیاجنګ کوی .
۳ـ نه یاړ وی نه هوښیار وی هسی دغوایه اودکتوئ ناتار وی .
٤ـ کم عقل دومره په بل نه وکه لکه په ځان.
۵ـ لیونی په کلی پوری خاندی اوکلی په لیونی پوری .
٤ـ غیلی که می پوولی نه دی هم، کش خومی ئی اوریدلی دی .
۷ـ موږ که خاوری کینه خاوری دې په کونه .
۸ـ خرپه خندانه پوهیږی .

۹ـ که شپه تیاره ده خوراو مور ښکاره ده .
۱۰ ـدخره مینه دلتو وهل دی .
۱۱ـ په نا قابل طبیب می سر شو * دردمی دزړه دارو دسترګو راکوینه .
۱۲ـ په ډیرو ړندو یو کوڼ جمعداری کوی.
۱۳ـ خرکه ترمکی لاړشی چی بیرته ورشی هغه خر دی .
۱٤ـ خر زوړشه اودڅښتن کورئی ونه پیژانده.
۱۵ـ په پردی مال کم عقلان خوښیږی .
۱٦ـ چی نه ذکروی نه فکر له دی هسی بیداری په خوب خوښ یم .
۱۷ـ په برغولی کی ډوبیږی .
۱۸ـ سخ دهغه لنډان چی نه په سود وی نه په زیان .
۱۹ـ دخره څښتن له عقل پلی خرئی په کور کی‌لوی‌شه ده‌لانه دی‌پیژندلی.
۲۰ـ ړانده هم په دی پوهیږی چی خدای یودی اومالګه تروه .
۲۱ـ ړوند په خپله خونه ښه پوهیږی نه سترګور دبل په خونه .
۲۲ ـچی‌میوی ئی‌دکابل خوړلی نه‌وی *دهغه ترفهم‌ډیرې وی‌ګور ګوری .
۲۳ـ که ډیر هوښیارئی کم عقل وپوښته .
۲٤ـ چی نه پوهیږی هغه ته یوه برخه دوی کړه .
۲۵ـ په ډیرو لیونی خو ښیږی .
۲٦ـ دخروله خوید سره څه دی .
۲۷ـ نه سودنه فایده ږیره کل کړه پاینده .
۲۸ـ دوه جاهلان زنجیر پریکوی .
۲۹ ـپه میښ چی لاس وهی نو سو په ورا چوی .
۳۰ـ تورخرپه صابون نه سپینیږی .
۳۱ـ خره ښکر ګټل غوږونه ئی بایلل .
۳۲ ـاوربشی که درویې شل منه وی دخره خو لپه دی .
۳۳ـخرپلارکړه چارپری بارکړه نو خردې پلارنه شه .
٤۳ـ لنډه یه په‌غوایه په لوړه وخیژه چی څوك څه کوی ته هم هسی کوه .
۵۳ـ آس ئی هغه ته ورکړ چی تانګ تړل ئی نه‌زده .
۳٦ـ کوتك خره وخوړ اوشونډك دکلال وپړسیده .
۳۷ـله ضروره خرهم ابا باله شی.
۳۸ـ که‌خرو یوی وهلی نو غوږونه به ئی‌لوی نه وو .

## غــم او ښادی

ژونددلته داحتیاط ،دقت‌او ګوانښ څخه ډك ښودل‌کیږی .سړی‌په خپلو غمونو کی‌بی‌پرواو مغرور ښودل کیږی ، داسی چی‌په زړه کی‌ئی‌دبل چا دغم لږڅه همدردی ځای لری. همدارنګه انسان اکثراً نړی په عینی اوموجـــود

شکل‌سره منی‌اوله افراطڅخه ژغورنه کوی .نه ډیرغم لوی‌اونه له‌خوشالی‌څخه چوی هڅه کوی‌چی اوس ځان خوشال وساتی اود ژوندانه له لنډ عمرڅخه گټه واخلی .

«څوك چی په ژوندکی ډیر مقررات او قیودات مراعا تــــوی هغه ژوند کوی خوپه ژوندکی بـه همیشـــه ورك وی . »

١ــ چی‌وپرزی خوږبه خرنگ نــه شی .

٢ــ یتیم په ژړا تینگ دی .

٣ــ ویرله ډوله سره نه شی .

٤ــمه له غمه پرزه مه له خوښی ورزه .

٥ــ نه له‌غمه څوك مړه شوی‌دی نه له خوښی څوك الوتلی دی .

٦ــ په ویرکی هرڅوك خپل مړی ژاړی .

٧ــ پردی غم له واورو سوړ دی .

٨ــ نه‌هلته ښادی وه چی زه‌وم نه‌هلته ښادی وه‌چی ئی یووړوم .

٩ــ دوراری په وراری سود کیږی دبوری په بوری .

١٠ــ ځامن خواږه دی غیشی ئی کا ږه دی .

١١ــزه دی دروغجن یم خوتا دی خدای جوړ، کړی.

١٢ــ چی په‌جهان کی‌ئی خوښی وی هغه کس دی .

١٣ــ پردی غم نیمه ښادی ده .

١٤ــ دآس ملاجنت دی کیده ئی دوزخ دی .

١٥ــ په‌دنیا دوه خیزه‌لذت که * سواری دآسو خوب دجونو په ورنونــه .

١٦ــ مه خوشحال وای مه‌خانی وای چچ‌په‌لاس تور موسلی وای خــوارمان دی که ځوانی وای .

١٧ــ سخ دهغه سړی چی ئی غم په بل سړی .

١٨ــ چی نه‌وی هم‌غم چی‌وی هم‌غم .

١٩ــ گازری په‌خوند دې‌نه یم‌په‌خرپ دې‌یم.

٢٠ــ دنیا په امید خوړل کیږی .

٢١ــ پښی می دپاس‌وی که‌په خره‌وی که‌په آس وی.

٢٢ــ بڼړه می وخریله اوعیدهم نه‌شی .

٢٣ــ یوغم له بله غمه نه شرمیږی .

٢٤ــ هغه څه‌دی چی بی‌ور کړوئی زړه ښه دی .

٢٥ــ ځینی ئی‌خوری ځینی ئی نغری .

٢٦ــ پلار او مورئی خوښیږی چی زوی موستریږی همی خبرنه‌دی چــــی عمرئی لنډیږی .

٢٧ــ اوبه په‌ډنډ دریږی اوغم په‌غم دریږی .

٢٨ــهرکله دې‌څه کــه‌چی زړه‌دی ښــه کــه .

۲۹ـ چې په مال دی اخترشه کوردې ډگرشه .
۳۰ـ راشه له هرچا پاسه ، راشه له هرچاسمه ، راشه له هرچا کوزه .
۳۱ـ له خوښی یی خبر نه شوم اوله غمه دی وسوم توره تپه .
۳۲ـ اوبه به تیری شی کانی به پاتی شی .
۳۳ ـزه‌دی دپلار ویر کوم او ته می د خولی پیښی کوی .
۳٤ـ ورځ دهغوده چی ښکل کوی ،شپه دهغوده چی سکونډل کوی .
۵۳ـ چرگ چی بانگونه کوی‌خپلی ستر گی ژاړی .

## پـــــوهه

۱ـ عقل لعل اوگوهر دی نه په زور اونه په‌زر دی .
۲ـ چی له‌خپله عقله پلی وی هغه تل په‌غم نیولی وی .
۳ـ ژبه زده کړه، یوه مه کړه .
٤ـ هرسړی له‌خپل عقله پادشاه دی .
۵ـ عقل له بی عقله زده کیږی .
٦ ـله جنگ نه زه راغلی یم او خبری ته کوی .
۷ـ کارچی بی استاد وی بی بنیاد وی .
۸ـ که ددرست کلی ملك ئی چی له ځانه خبرنه ئی نوهلك ئی .
۹ـ هوښیار نه پرزی اوچی پرزی بیاپه خوله پرزی .
۱۰ ـهوښیار مرغه نه بندیږی او چی بند یږی نوپه دواړو پښو بندیږی .
۱۱ـ ډیر هوښیار ډیر خوار .
۱۲ـ طبیب کوم طبیب دی‌چی په ځان‌ئی تیر شوی وی .
۱۳ـ دزرو قدر زرگر پیژنی .
۱٤ـ دحکیم خبری بی حکمته نه وی .
۱۵ـ لنده ژبه هری خواته گرزی .

## کار او مزدوری

لاندینی متلونه په‌عمومی توگه دخواریکښانو او مظلومانو متلونه دی . په دی متلوکی انسان فقط دکار اوزحمت لپاره پیدا شوی دی. کار او زحمت گالل دانسان گاڼه ده. تنبل اولټ انسان دسپکاوی حق لری . دکار اوزحمت گاللو خوند ډیر زیات دی. دکار دخوړوالی او ارزښت له امله پښتـــانــــه ځانونه تکړه‌کار کوونکی‌اوزیار ایستونکی شمیری. دزیاراوزحمت‌عمده‌دلیل غریبی مظلومیت او مجبوریت دی.

اوکه نه ډیر محنت اوزحمت چی زیات حاصل ئی هم‌بل څوك واخلی هیچاته

خوندور کیدلی شي .ددیسیمی پښتانه دښې او حاصل خیزی مځکی په درلودو سره چی اوبه ئی هم پریمانه دي زیات حاصلات ترلاسه کوی . په تیره بیاد بنو وادی ډیره خړوبه اوآباده مځکه ده، مګر خلك ئی یوازې دفصل په وخت کی کار کوی ، بل وخت لټ اوتنبل پراته دی . دفصل دکرلو او ریبو لو وخت هم یوازی دځو هفتو لپاره دوام کوی .

۱ـ ګټه ئیدمزدور غوندی ،خوره ئیدښښتن غوندی .
۲ـ چی خپله اوړه زهیره نه کړی پردی زوی به خپل نه کړی .
۳ـ چی درشی له بله کوره په تابه شپه که تکه توره .
٤ـ خپله اخسته په برغولی کی هم ښه ده .
٥ـ چی کاره بارونه وړی هغه اوښان دی .
٦ـ له پراته زمری ښورن ګیدړ ښه وی .
۷ـ خپل کټ خپل پوزکی له هرځه وی خوږ کی .
۸ ـ په یوه لاس لوکوه په بل لل کوه هیڅ پروادی نه شته ډیره کل کوه .
۹ ـ پړدی چاردی که ښه وکړه لاسدی تور ،که دیبده وکړه مخدی تور .
۱۰ ـ که شنغړی ژورنه کړی پردی زوی لوربه خپل نه کړی .
۱۱ـ چی خړنه شی غوړ به نه شی .
۱۲ ـ خری کاره کهتری ،ګوندی خدای درکه بهتری .
۱۳ـ له بیکارنه بیګار ښه دی له جاهل نه تور مارښه دی .
١٤ـ لاس وهه خدای یادوه .
۱٥ـ یوپه سل راځی نه سل په یوه .
١٦ـ دښکار غوښی دځان غوښی .
۱۷ـ بی مزدهچار دهیچانه زده .
۱۸ـ چی له خپله کسبه نه خوری که ولی وی ښه به نه خوری .
۱۹ کار اسان دی پال ئی ګران دی .
۲۰ـ ډیر غواړه لږ نغاړه .
۲۱ـ تیار خور حرام خور .
۲۲ـ که میلمه ئی سټ خونه ئی
۲۳ـ چی بیکار وی که سردار وی څه په کار وی .
٢٤ـ چی کمکی ئیاخلی برګونه دخوار به شنه شی زنګنو نه .
۲٥ـ سندرو چی سور دی زور دتنور دی .
۲٦ـ کوږ ووږ له خپله لاسه خوږ .
۲۷ـ چی څوك خوبونه کوی دهغو کتې پیدا کیږی .

## دروغ

۱ـ چی رښتیا وردرومی درواغو به په ملك اور لګولی وی .
۲ـ په سترګو وینی په زوی لوړی .
۳ـ درواغجن درواغ وایی اورښتینی ئی قیاس کوی .
٤ـ مدعی سست ګوائی چست .
٥ـ ددرواغو مزل لنډ دی .
٦ـ رښتیا که بایده دی هم تارخه دی .
۷ـ درواغ ویل دکوتی ترپ دی .

## سمپا او اصراف

دا هرو مرو وایو چی پښتانه دنوم او شهرت لپاره ډیری درنی میلمستیا و ی ورکوی اومیلمه پالنه ددوی غوره دو ددی .هغه پښتون چی لنګر یی خلاص دی اوهر لاروی ته ډوډۍ کوی وائی چی پیسی ئی په ښه لاره کی خر ځیږی میلمه چی هر چیری ولاړشی دده ستاینه به کوی . پښتانه نژاداً میلمه پالونکی خلك دی ، هرکلی حجــــره لری او پردی میـــلما نـــه هلته شپه تېرولی شی اودکلی خلك ډوډۍ او څه کالی دشپی دتیرو لو په غرض ورکوی . دحجری مصارف یادکلی دملك له خوا ورکول کیږی اویا پـــه کلی ویشل کیږی .
۱ـ اوله ورځ پاچا ، بله ورځ وزیر اوبله ورځ له خاورو خمیر .
۲ـ بی وخته میلمه دکاله ناتاردی .
۳ـ په لږوکی خوره په ډیرو کی ننګ کوه .
٤ـ پردی خواړه په پور دی .
٥ـ دمیلمانه په تلوار دکاله څه شی .
٦ـ دیوه ست ښه دی دبل پت .
۷ـ مړی چی کوربانه خوښوی ، میلمانه ئی خو ښوی .
۸ـ په فقیر که یودربند شی شل پری خلاص شی .
۹ ـ چی ورکړی ګل شی چی وخوری . . . شی .
۱۰ـ سخیان دخدای دوستان .
۱۱ـ څوك چی ننګ که هغه توری شړی لنګ که .
۱۲ـ کال ته کسه لوړوهـــه .
۱٤ـ ددووکورو میلمه خواروی.
۱٥ـ جنګ پر وسله شی ننګ په غله شی .
۱٦ـ بللی خور ولی .
۱۷ـ دسلو بللیو ځای وشی دیوه نابللی ځای نه شی .
۱۳ـ چی اوګره سړیږی میلمه ډیر یږی .

۱۸ـ نه تاڅه راته کیښوول نه ماڅه په کی پریښوول .
۱۹ـ نوم‌دې لنگر کوردی ډگر .
۲۰ـ شنی گورگری می نه‌خوړی په پخوپسی گرزیدم پنی می بایللی .
۲۱ـ دریاب که لوی دی دسپی په ژبه دی .
۲۲ـ کورمی درجار څکه دی‌مه وه .
۲۳ـ دبخیل مال دخوارو دی .
۲٤ـ چی‌ډیروی خوډیروی چی‌لږوی په بسم‌الله نه ډیر یږی .
۲۵ـ بدشوم دی بدئی نوم دی .
۲٦ـ اخونده اخونده!ماردی. دښو ځوانانو کاردی.اخونده اخونده!تلبردی.
یوزه‌یم بل می‌زوی بل‌ملا اکبردی .
۲۷ـ اخونده صاحبه غوړی‌دی‌غږمه لره سړی دی، دانوردې په لاس کسی
څه دی ؛ نغن دی‌څه عجب‌ئی خوند دی .
۲۸ـ چی‌سړی زړیږي حرص ئی زیاتیږی .
۲۹ـ شوم گډیر ،تازیان کوی .
۳۰ـ چرگ چی څوبیږی .... یی‌تنگیږي .
۳۱ـ نه خرمرداریده نه سپی ورنه ته .
۳۲ـ موږك په غار ننوتلی نه شواوپه لکی یوری یی مخ ورپسی .
وتا ړه .
۳۳ـ چی ماما وسرته لاس کړی دخورئی امید ورته پیدا شی .
۳٤ـ دگیډی لار ژوره ده .
۳۵ـ اخوند موږشه پاته یی کورشه .
۳٦ـ طمعدار په دواړه جهانه خوار .
۳۷ـ ته وائی بس دی‌وائی لس .
۳۸ـ مرغه دانه وینی لومه نه‌وینی .
۳۹ ـ چی‌دنس په هوا درومی که یی غم نه‌وی غم به‌مومی .
٤۰ـ که واړه دنیا دیوه شی هغه یوبه پری موړ نه‌شی .
٤۱ـ چی دونی ترك شی دوزی ورترپ شی .
٤۲ـ منگور خاوری په احتیاط سره خوری چی تمامی به شی .
٤۳ـ په پردی کورسل میلمانه هیڅ نه دی .
٤٤ـ دنیا په نهو ولاړه ده هیچالس کړی نه ده .
٤۵ـ . . . هم تنگ غواړی اودزوی سرهم غټ‌غواړی.
٤٦ـ چی په تلبر میړانه کړی ددنیا زور لری .

## دانسان عدالت

۱ـ باران په باړه وشه اوخره یی دخالصی یو وړه .
(ځایونه دی ) .
۲ـ فصل غوایانو وخوړ او غوبږونه ئی دخرو پریکړل .
۳ـ ملك خراړوویران که اونوم دکارګانو بدشه .
٤ـ وازګه ئی دپیشو په لکۍ پورې وتړله .
٥ـ حق دحلالید لو دبزووه او په کی راغلل چرګان.
٦ـ ګناه په خپله وکه لعنت په شیطان وایی .
۷ـ یوئی ګتمی بل ئی ختمی .
۸ـ ګرم به کم قوت وی اوختی به دزور اورختلی وی .
۹ـ ځای ودبازونو ،ونیو کار ګانو .
۱۰ـ خواړه خوله خوری او شرمیږی سترګی .
۱۱ـ غوښی نورو وخوړی اوهډوکی دګنجی په غاړه کړل .
۱۲ـ ماسته بیزو وښتل او خوله ئی دغرنجی ککړه کړه.
۱۳ـ تیل زما لګیږی اوپه ګټه ئی نور خوښیږی .

## بوډا والی

دعمر اوزوړوالی تو پیر دپښتنو ځوانانو له خوا تل دتوجه وړدی. «زوړوالی هوښیار ی » یوه داسی موضوع ده چی پښتانه په درنده سترګه ورتـــه ګوری ، ځکه چی په تولو کورنیو او کلیوالی شخړوکی دسپین ږیرو نظرتی داعتبار وړدی . په مرکه کی دسپین ږیرو خبروته تپول غوږ ږدی. کوم متلونه چی دلته راغلی تپول دسپین ږیرو دمقام داحترام ښکار ندوی دی .
۱ـ دزاړه سره مه کوه مړ به شی دواړه سره مه کوه هیر به یی شی .
۲ـ دور او پلار چی زاړه شی ترګوړو خواړه شی .
۳ ـ سپینه ږیری خاوری پینه .
٤ـ سړی چی زوړ شی هرزحمت ورجوړشی .

## خواری او غریبی

تقریباً له نیمایی څخه زیات متلونه چی په ندی هکله لیکل شوی دی په مروتو خلکو پوری اړه لری . ددوی ظرافت دستاینی وړدی. دیوه غریب مروت څخه بل څوك دخواری او غریبی په هکله ښه معلومات نه لری «خواری دروغتیا ـ مورده» او خواری انسان کلك اوسر سخت آموخته کوی . ددی متلـــو نو بله برخه بنو څیو ، ختکو او دوزیرو دسیمو څخه ده چی زیاتره ئی مشهور ـ

متلونه دی . کومه خاصه قبیله اومحل نه شو ورته ټاکلی .
۱- دخوارسري په لاس کندك لواړ لیده شی .
۲- تشه لاسه ته می دښمن ئی .
۳- ګنجی په سرتارنه لری په چا کار نه لری .
٤- بار خروړی او . . . دکلال خوړ شی .
٥- که په نورو ښه شپه ده په خوار هغه شپه ده .
٦- نن خو ارتل خوار .
۷- نیستی پاکه پاچاهی ده دولتمند ئی له لذته خبر نه دی .
۸- ورك شی پوره چی میړه باسی له کوره .
۹- دخره هنهاکه له غمه ده برخه یی کمه ده .
۱۰- خدایچی سړی خواروی په ورځ دوه واره پخوی .
۱۱- دادی دومره غوړی وو چی په سرتمام شول .
۱۲- مسکینه یوه سترګه دې توره بله دې سپینه .
۱۳- یاخوارمه وای یا هوښیار مه وای .
۱٤- که خواریم هسی خوار نه یم چی دمسافر و ځوری پټوم .
۱٥- که دګیدړ خپلی وای پردی به ئیولی پټولی .
۱٦- له پورو ړی زیات خوار نه شته .
۱۷- چې نه دې وی خپله غونډه بل ته به ناست ئی وچه شونډه .
۱۸- وینځه چی توده شی هلته اوده شی .
۱۹- دخوارانو کټوی په صبر پخیږی .
۲۰- دخوار چیرکی تل دزور اورو سپی خیری .
۲۳- که وطناوګره شی دخوار خو یوه چمچه شی .
۲۲- په میړو خوار په هډو خوار.
۲۱- خوار دارزان هیله وکړی په وار دوه جامی زړوی .
۲٤- اوښ خوپه پیسه دی چیپیسه نه لرم څه وکړم .
۲٥- خوارانو مال په پلو څری .
۲٦- خوا دی عیب نه دی عیب غلاو کاسیری دی .
۲۸- دپیشو په سر دستنی داغ ډیر دی .
۲۹- یو بهلول یو ئی کچکول .
۳۰- ورك شی پوره چیورك دې کړل دوه کوره .

## غرور ، خود خواهی ، پلمی او بهـــانی .

ددی ګروپ متلونه لږ ګډوډ دی چی د انسان دزړه ضعیفی اومنفی جنبی ښیی .دحیواناتو په طبیعت کی داخلاقو په هکله خاص متلونه راټول‌شوی‌دی. کارګه او خره ته همیشه سپك کتل شوی دی :

١ـ سکنده چی ځر به شي دچوهاړي (جاروکښ) کره په خپلــــــــه ورکړه شي .
٢ـ پکه دخپلي خور په ويښتو سخ کوي .
٣ـ ځمځه هم په ځان غره شوه چي په ما اوکره سره شوه .
٤ـ لوخي دقوم سپکه غوښتله سرئی په درياب کی وچ‌شه .
٥ـ هرچاته خپل عقل ښه ليده شي .
٦ـ لګړ د زر کی يون زده کاوه خپل ئی هير که .
٧ـ وزی په ميړي پوري خندل چي دالوځه ... دې ورکه شه .
٨ـ سترمی کړی او سترمی دغاړی مه کړی .
٩ـ ترورړی (ګيدړی) ته خپله سيوره غټه ښکاره شوه .
١٠ـ هر څوك وائي چې زما دغړکی خوند ښه دی .
١١ـ ځر هغه دی کته يی بله .
١٢ـ هيچاته دخپلي خولی بوی نه ورځی .
١٣ـ چی کم نه شي سم به نه شي .
١٤ـ چاچي ځان کمين که دجنت براق‌ئی زين که .
١٥ـ له خره څه مردار دی چي دی خړی او به نه څښی .
١٦ـ سمه سويه ولتيده او سم تازی ته .... ورغلل .
١٧ـ چې دادی وار شه بابا بيمار شه .
١٨ـ لګرهم .... خوری هم وزرخانه‌ی .
١٩ـ په کورکی دې نه چنه شته نه بته په شمله دې شوم غلطه .
٢٠ـ که خواړه پر دی وو ګيده خودې خپله وه .
٢١ـ بيګاری سړی په پردو متيازو کښينی .
٢٢ـ شڅ‌کی‌وايی‌چې زما تر کوچو پسته زويه اولګړچې زما ترلتی‌سپينه زويه .
٢٣ـ که دتادی اوربشی ډيری ځماله نازه سترکی توری .
٢٤ـ غلبيل کوزی ته ويل چی دا دوه غارونه دی ورك شه .
٢٥ـ اوښه څه دې سم دی چی پاته دې ځرخه .

## خود خواهی‌او ناشکری .

خود خواهی دهرچا په نظرکی بده‌ده اوناشکری هم‌لوی عيب دی. ناشکری انسانان په هرځای کی پيدا کيږی . دپښتو متلونه په دی هکله دانګريزی متلو سره پوره توپير لری. پښتانه هوښيار اوزيات ئی‌په سلوکی زيرك‌دی.

١ـ زه دستا په برګ يم اوته زما په مرګ يی.
٢ـ له پروی زوی نه ميراث ښه دی.
٣ـ دپلار زړه په زوی او د زوی په وچ کانی .

٤ـ چي ځان وی په ضرور نه زوی وینی نه لور .
٥ـ دګیدړ . . . . پکار شول ځنګله ته ئی زغلول .
٦ـ پریښول ئی عیب لری پریکول ئی درد ناخلف شه دپدرپه مخ کــــی زخـــــه .
٧ـ یوه ځان کندن کاوه اوبل لور ورنه غوښتله .
٨ـ اول ځان بیا جهان .
٩ـ خرپه ځان حیران ښښتن ئی په بار حیران .
١٠ـ چی ئی غیشی له مازده کړه بیائی ښځن زما په سینه کړه .
١١ـ پلار ئی له لوږی مړیده او زوی ئی خواږه ورنه غوښته .
١٢ـ موږ دوړی له حاله څه زده .
١٣ ورورکه سپور دی دخپل کور دی .
١٤ـ چی زما په کور ماړه شی هغه زما دمور میړه شی .

## قــوت او قــدرت

١ـ له زوروره یالیری یاغلی .
٢ـ چی په زور ورسره نه ئی برابر دهغه په څنګ مه څه زړور .
٣ـ دزور ورو اوبه په پیچو مو خیږی .
٤ـ مه کوه په چا هسی به وشی هم په تا .
٥ ـ خور خورده موږ موږ ده چار د زور دی .
٦ـ زورئی زور اور ته ورکړی دی .
٧ـ حق ښه دی بی زوره هیڅ نه دی .
٨ـچی دزور ورو ښکنی خوری هغه خپل ورشکی خوری .
٩ ـ شل ټکه د زرګر یو د آهنګر .
١٠ـ چی زور دزور آورشی پتی له تخم سره خپل شی .
١١ـ یو غربل غره ته نه ودریږی یو بنده بل بنده ته ودریږی .
١٢ ـ تړه که مضبوطه ده د نوزپه مخکی هیڅ نه ده .
١٣ـ چی خان وی په یاران وی چی یاران ئی نه وی خان په بید بیدیـــــا حیران وی .
١٤ـ که د بلی زړه وی ګوړی دمالو بس وی .
١٥ـ زور اور غوړونه لری سترګی نه لری .
١٦ـ له آزار نه بازار نه شته .
١٧ـ نه به دې زورا ورزوی شی نه به دې ورورشی ، هسی کانی به دې پــه کــورشــــی .

۱۸ـ او به ړاغلی په ورخو نه او به دهغو دی چی زیات وی په میړونه .
۱۹ـ که تېر کړی که پر کړی وزر به دې وکاږم .
۲۰ ـ تل چمچه په کونډه کی وی یوه ورځ خود کونډه که هم په چمچه کی شی .
۲۱ ـــ چی لوی دو لت غواړی لوی دې دانت غواړی چی لوی ولا یـت غواړی روغ دې صورت غواړی .
۲۲ـ چی زنبی ئی ملك وی کلی ئی هلك وی .
۲۳ـ که او به زور لری مځکه سور لری .
۲٤ـ له زور اورو یا پنډی اوری یا کنډی .
۲۵ـ ګټه دڅښتن ده دسپی خو هسی دودی .
۲٦ـ کانبی که کم دی دګړی محکم دی .
۲۷ـ زور دچل ملا ماتوی .
۲۸ـ شرعه ښه کاردی خو زور ئی یاردی .
۲۹ـ دمیښی خو دا خوښی ده چی ښخیږی نه .
۳۰ـ غر که لوړ دی په سر ئی سمه لار ده .
۳۱ـ دنوی ودان له پوره می وساتی دکم زوری سړی له زوره می وساتی .
۳۲ـ مار که ماردی دپیشو لاچار دی .

## شتمنـــی

۱ ـ چی په لاس کی دې وی خوب کوه چی له لاسه دې ووزی غوریــږ کوه .
۲ـ دزرو دڅښتن لار ارته ده .
۳ـ ګیدړ خپل پوست په بلا کښیوست .
٤ـ دنیادهغه ده چی خوری ئی نه چی ساتی ئی .
٥ ـ د نیائی هغه ته ورکړه چی د پوزې پاکول ئی نه زده .
٦ـ چی سره خوری هغه سره خړی .
۷ـ چی له خپلی دنیامست وی له هرچا سره ئی قصدوی .
۸ـ غوړ وی لاغوړ وي.
۹ـ هاتی که له تندی مری په کیډه کی ئی پوزنګون او به ولاړی وی .
۱۰ـ که ئی ډیره کړی قارون غوندی خو به نیره شی پرون غوندی .
۱۱ـ دنیا دکمر سوری دی .
۱۲ـ څوك ورپسی مری او څوك ورنه مری .

۱۳- چې زروی زاری څه وی .
۱٤ - کته دې له چاوکړه له خپله وروره داهیڅ کته نه ده .
۱۵- که دیری دی تیر می نه دی .
۱٦- که پرون کمرونن کودر دی .
۱۷ - چی عمر ، خان ودهرچا ځان وچیعمری شه دهر چاسپی‌شه .
۱۸ - ځوانی دې‌وی غوړی دې نه وی .

## ښځی

لاندینی‌متلونه یوازې هغه متلونه نه دې چی‌سړی دښځوپه هکلـــــه څه فکر کوي بلکه داسی متلونه هم‌په کی شته چی‌ښځودسړیو په هکله ویلی دی . څومتلونه دمینی اومحبت په‌هکله دی . هغه‌څوك چی فکرکوی چـــی ښځی د لته سپکی کتل شوی دی اویاځینی متلونه بیخی بی‌ادبه دی‌بایدونه لیکل شی، زماپه نظر لیکل ئی ځکه ضروردی چی اصلی ماهیت‌ئی راښکارند شی. مګر باید داوواویویوازې پښتانه نه بلکه ټول‌انسانان‌په هرځای کـی چی‌دی ښځوپه برخه کی‌مجرم دی ځکه د ښځودمیرانی، پوهی‌اونوروښواو- صافو څخه ئی سترګی پټی کړی دی. داځکه چی تریوه وخت پوری ښځـــی هر چیرته د مرئی په شکل ژوند کړی دی او کوی ئی .

۱- کونډه‌ئی پریښوه‌ټنګه ئی پری کیښوه .
۲- پیغله په‌شپه‌کوه کونډه په‌کاته کوه طلاقه هیچری مه کوه .
۳- نه پکه په چاسرکوی اونه دا د چاسر کوی .
٤-لیور که لربرشی خواخیربه خپلـی ... ته ... شـی .
۵- که بوډۍ بزرکه وای نو دډیرو کورونه به ئی ډکر کړی وو .
٦- دمور .... که دغوښی دی روانه دی .
۷- چی‌می نه‌ګنېله ورته هغی وتړله نته .
۸ - د کونډی نه د ین شه نه ئی ... شه .
۹ - د کاسیری زل نه ودسپینو ځولی ئی مات کړ.
۱۰-که له ور ینداری نه زهیر یږی له وروره زهیر شه .
۱۲- چی تور نه شی ... به نه شی .
۱۳ - د پلار دکورله خواری به خلاصه شی او دسخردکورله‌خواری به خلاصه نه‌شی .
۱٤ - کونډه د زوی په‌هیله له میړه ووته .
۱۵ - مور ئی کسه لور ئی نسه .
۱٦ - ستر کی له ا صله توری ښی دی.* په رانجو ستر کی لولیی توروینه .
۱۷- اورته راغلی دکور میرمن شوی .

۱۸ـ دمیره لوز کوره دښځی ښایست .
۱۹ـ چی ډیر غواړی جنگونه هغه دوه‌کوی وادونه .
۲۰ـ چی ځوان وی دنجونو ځان وی‌چی زوړشی دنجونو پیغور شی .
۲۱ـ یوساعت ددیدن ښه‌دی نه دصدرون درې اندي اور بشی .
۲۲په تش کاته دعمرڅه شی لکه سپی چی هډوکی زړه ئی ښه شی .
۲۳ـ مین به‌ښه لرم خوراك به‌ئی سپینه خوله لرم استوگه به‌ئی پسه ورانه لرم که لیونی شه هوده نه لرم .
۲٤ـهغه ناوی چی‌په ځان ښایسته نه وی .
ځوك ئی څه کوی ښایست دمور او نیا .
۲۵ ـ لیلی یوه یارا نئی ډیر نیولی دینه .
۲٦ ـ زما دې څه وکړه چی لاړی * زه‌چی‌په مغزلفی‌لرم‌بل به یارکړمه .
۲۷ـ اول ئی ویاړه شیروه بیامیره شیروه .
۲۸ ـ چی ئی موروی بد آوازه لورئی‌نه‌وی نیك آ وازه .
۲۹ ـ غوا دکڼ کوه ښځه د جڼ کوه .
۳۰ـ خور اولور په‌ختخوراك ښه لره اوله ځانه ئی کوښه لره .
۳۲ ـ که زوی او ورور په خواست دی‌میره هربوتی ته ناست دی .
۳۳ـ خری موری ادی موری .
۳۵ـ خور اولور غو ړډولی‌دی چی‌ځان ته ئی نږدی کوی غوړیږی چی له ځانه ئی لیری کوی نوسپی ئی خوری .
۳٦ـ خوری اسپه کور ودانوی ، خوری ښځه کور ویرانوی .
۳۷ـ غرونه بی اوبو نه‌وی کورونه بی میړو نه‌وی .
۳۸ ـ چی ځوك ددین په‌ښه ځی‌له ښځو به‌کوښه ځی.
۳۹ـ چی‌په کونډکه کی‌دې برخه نه‌وی په ډکرئی‌وله چی‌مات شی .
٤۰ ـ ټوکی کیږی خونه په سکو نډلو .
٤۱ـ دځوی په ژبه مور پوهیږی .
٤۲ـ واك ددې کوهری که پلیمنه خوری که سنکری .
٤۳ ـ پر دی‌موری که ښه وائی بدبه کوری خپلی موری‌که بدوائی‌ښه به کوری .
٤٤ـ خالی کنډول نسکورښه دی له مرداری ښځی ډکر کورښه دی .
٤۵ ـ کونډه دې میره وکړی چی نوم ئی بدنه شی .
٤٦ـ نوی ناوی راغله نوی دودئی راوړ .
٤۷ـ بن دختو هم بده ده .
٤۸ـ دکور ناوی هلکه وی .

٤٩ـ هغه ښځه میړه‌وی خندنی ښځه درلی نه شی او هغه ښځه وی‌چی خندنی میړه درلی نه شی .
٥٠ ـ که داوار خلاص‌شم له دې اشنانه ، بیامی توبه ده‌له جمله اشنانه .
٥١ـ نه ئی ننگ‌شته نه تیغونه ترخانانو دماغی دی پیغلی نجونه .
٥٢ـ بی ریباره یاری گرانه ده .
٥٣ ـ په لیلی هرسړی مین دی* سخ‌دهغو دی‌چی لیلی‌شوه‌پری مینه .
٥٤ـ کونده چی میړه که ولی ئی وړاندی نه که .
٥٥ ـ په وړاندنی‌سترگه می‌گوره* که مخ‌می‌تور دی‌اندیښنی‌می‌کړی‌دینه .
٥٦ ـ که سوځی کونده سوځی میراث‌خور ئی څه کوی .
٥٧ ـ د خورلورپه لمڅی‌عبث‌کوی خواری .
٥٨ـ مورمی مړه کړه ما یله کړه .
٥٩ـ موزی نه‌کور لری نه له چا پیغور لری .
٦٠ ـ نه‌کوم موزی چاری نه‌کوم لونگ‌به په درنه میچن‌انه کړم .
٦١ـ بور خوړلی زوی رودلی .
٦٢ ـ چی وروزئی کړی دربانده ... به ئی نه کړی .

## هغه متلونه چی عمومی اخلاقی او اجتماعی او انتباهی بڼـــــی لـری .

ددی مجموعی زیات متلونه باید دیوه خاص عنوان ترنامه لاندی ترتیب شوی اولیکل شوی وای مگر ددی پلان څخه دمخه دامتلونـه پـــه دی ډول راغونډ شوی وو. نوما ددی بیا بیلول لازم ونه بلل ځکه چی دومره گټه هــم نه کوی،، اوزیات‌شمیرئی‌په کومه خاصه کتگوری کی‌هم‌نه راځی اودمتلونوسره مشابه جملی دی :

١ ـ څوك چی اوښان ساتی دروازی دی ستری لری .
٢ـ غوښی دی یوړی خواورته به ئی راوړی .
٣ ـ مه کوه پیښښی څه دې په سرشی څه په پښی .
٤ ـ مچ څه کو لی شی خو خوابده کړی .
٥ ـ په الاجی دې لوبی کولی اوس په کی بند شوی .
٦ ـ غوښی که سوی وی له پیتی ښی دی .
٧ـ ځان کندن همسی اسان نه دی چی‌هره زړه ئی کولی شی .
ـ٨ چی‌دلنگیدو نه وی نوڅله بلارا بید ې .
٩ـ په و چه ځمکه لامبو وهلی نه شــی .
١٠ـ چی ژوندی وی خوښیدی اوس چی مری اینه دی سوځی .

۱۱ـ دځمیارخونه ،هسی سخاوه چی باران پری وشه لاسخاشـــــوه .
۱۲ـ په دوبیانو پوری خپل نوکونه اور شول .
۱۳ـ بی له چریکی نه هم عیدشی .
۱٤ـ بی له چریکی عید نه کیږی .
۱۵ـ که چرگ بانگ نه وائی هم سبا به شی .
۱٦ـ دخری که خوږ شی دخره پری څه شی .
۱۷ـ څومره‌چی دې پتونی وی هومره پښی غزوه .
۱۸ـ ړوند چی ژاړی په ړندو سترگوهم ژړلی شی .
۱۹ـ له لمده څه لمدیږی ، له وچه هیڅ نـــه .
۲۰ـ خرپه غوږونو وهه چی هنائی هیره‌شی .
۲۱ـ دمیښی که ښکر ستردی په‌خپل سرئی دی .
۲۲ـ پربی سرینښه نه ښنخیږی .
۲۳ـ لکه چی غریږی هسی نه ووریږی .
۲٤ـ خپل لنډی سوگه لره بلغل مه بوله .
۲۵ـ کوهی د بل په لارکی مه کنه په خپله به ور پریوځـــی .
۲٦ ـ دوطن سویه دوطن سپی نیسی .
۲۷ـ که کور می وسه خندق می پوخ شه .
۲۸ ـ چی کوره خوری چوشی به پری که .
۲۹ ـ د ښښ خنک ته‌چی اوسی هغه به‌سوی جامی یرسی .
۳۰ ـ وریه څه به حاصل کړی دسو یی له سریه .
۳۱ـ هره ونه مه خوره یوه به‌دی گنډهیر شی .
۳۲ـ پنځه سره گوتی‌په خوله مه منډه .
۳۳ـ په‌ډیرو قصابانوکی مړ مردار یږی .
۳٤ـ مړی غږکوی که ئی ژوندی اوری .
۳۵ ـ ستاله خیره می توبه ده خوسپی دې‌رانه کوری کړه .
۳٦ـ که لنگی غواوی بکیږی ځامن غواړی نووچی غواوی ولی بکیږی .
۳۷ـ لیوه که څپلی کړلی خپل ځان له به ئـــی‌لولی .
۳۸ـ خړسپی دلیوه ورور دی .
۳۹ ـ نه خروهلی نه لښته ماته .
٤۰ـ ویش کوه میړوته گوره .
٤۱ـ خاوری لاړی په‌ایرو پوری ئی واړول او باد پری راغی دواړه ئی یووړلی .
٤۲ـ چی دماما په نغری شی هغه واړه لیونی شی .
٤۳ـ یوه بلا بلی بلا ته وائی چی بو .

٤٤ـ یوچا په کلی کی‌نه پریښود اوده ویل چی وسله می‌د ملك کره
کښیښ دی .
٤٥ـ په هری سوړی گوتی مه منډه .
٤٦ ـ لاری وهه د خدای لار گوره .
٤٧ـ پیا زدی وی خوپه نیاز دی وی .
٤٨ـ یاراته ودرېږه یارانه ودرېږه .
٤٩ ـ چی ځان وینی جهان‌وینی چی ځان‌نه وینی هغه خوخاورې پینی .
٥٠ـ چی ډیر غږیږی غلط به شی چی ډیر خوری غارت به شی .
٥١ ـ اول مړه مه نیسه او چی نیسی ئی نو تینګه ئی نیسه .
٥٢ ـ سر له خدایه غواړه پګړی‌ډیری دی حمیده .
٥٣ ـ غواکه توره ده پی‌ئی سپینی دی .
٥٤ـ مال چی دخښتن په دود نه وی حرام باله شی .
٥٥ ـ چی یوه دې ړنده شی په بله لاس ونیسه .
٥٦ـ په ژوندی غوښه او رنه لګی .
٥٧ـ له بلا یالری یاور دننی .
٥٨ـ د قبر خاوری په قبر تمامیږی
٥٩ ـ شهر په شیوه خوړشی نه په توره
٦٠ـ ځای هغه سوځی چی اور باندی بلیږی .
٦١ـ څه دې شی په هغه لوری چی نه دې غیلی وی‌نه لیری .
٦٢ ـ چی تیغ چلیږی وینی بهیږی .
٦٣ ـــ که بی ځایه زرکی نه وښکی آواز * نه صیادځنی خبرونه شهباز
سکه له دی خبری هسی معلومیږی ـ چی خپل غږدی هر سړی لره غمـــاز
٦٤ـ که غوار اغله نغن‌په پی ، که نه راغله پردی .
٦٥ـ لکه میندی هسی لونه لکه ژرندی هسی دوړه .
٦٦ـ څه رنګ چی کری هسی به ریبی .
٦٧ ـ غله په غله زده مله په مله زده .
٦٨ ـ توره په کتوده غشی په و یشتو دی .
٦٩ـ چی چنهی وی هلته غابښ نه وچی غابښ وهلته چنهی نه وی .
٧٠ ـ چی زوی و هلته شوی (لباس) نه ووچی‌شوی‌ووهلته زوی نه و.
٧١ـ منګی ... څه ولی .
٧٢ـ چیر ته کور وی هلته غږوی چی‌چیرته لوښی وی هلته غوب وی.
٧٣ـ ونی ته به چاپړ یکولی که تبر لاستی دې نه وای له خپلی تنی .
٧٤ـ ریښمین که زوړشی دخره پرونهی نه ځنی کاوه شی .
٧٥ـ اول زده کړه بیا کوزده کړه .
٧٦ـ دآس لته آس سپیا . (دآس دلغتی طاقت آس لری .)

۷۷ ــ چي په گوړو مري په ز هروئي مه وژنه .
۸۷ـ توکړی لاړی اخیستی نه شی .
۷۹ـ له جهان سره نتلی ، نه نتلی .
۸۰ ـ پلار دې څه کول خره ئیخسی کول،څه ئی تری موندل خپلی جامی ئی پلیتــی کړ ی .
۸۱ـ دښوغوښو ښه زومنه ده .
۸۲ ـ چی په سمه خوراك مومی کم بخت به غره له ځی.
۸۳ ـ چی غله ډیروی اوربشی کره چی ځامنډیروی ودونه کــوه چــــی دنیا ډیره وی سوداگری کوه .
**۸٤ـچرگ په تپ کیمه ځیروه په تلبرکی ئی ځیروه .**
۸۵ ـ چی زده کړی په چیړی هیربه نه شی په پیړی .
**۸٦ـ په خوله خوړ په نیت کوړ .**
۸۷ـ داسی کوه چی مارهم مړشی او کوټهم مات نه شی .
۸۸ ـ چی نه دې بولی مه ورځه چی نه دې بڼغوی مه بڼغیږه .
۸۹ ـ په یوی لاری دوه واره ځه په یوې قصی دوه واره مه ځه .
۹۰ـ ډیر ویل دقرآن ښه دی .
۹۱ـ له خوشی غړیده پټه خوله ښه ده .
۹۲ـ څوك چی کیوزی په خپلی خولی کیوزی .
۹۳ـ چی نه پوهیږی ځوانه که .
۹٤ ــ که تږی وی په خپله به اوبو له راشی .
۹۵ـ ارزان بی علته نه وی او گران بی قیمته نه وی .
۹٦ ـ چی په چکړو کی خیژی څاځکی به ورپریوځی .
۹۷ـ چی د دریا په غاړه ځی خود به ورلو یږی .
۹۸ـ یوه خوله خو، ښه خوله .
۹۹ـ پټکی چی له سرنه پریوزی که په اوړوتم شی همښه دی .
۱۰۰ـ ړوند څه غواړی دوی سترگی .
۱۰۱ـ چی شپه شی ډارپه وره شی چی ورځ شی ډارپه غره شی .
۱۰۳ـ هرکار چی پوره نه وی داسی مه وایه چی وشه .
۱۰٤ـ شپه ترمیان خدای مهربان .
۱۰۵ـ څه تر وره پناه څه تر غره پناه .
۱۰٦ـ پسی شا د پاچا ښځی ته هم ښکنځل کیږی .
**۱۰۷ ـاوښ ته چاویل چی لوړښه دی که ځوړ ،ویل ئی په دواړو لعنت شــــه .**
**۱۰۸ـ منگورهم دغره لوړهم دغره .**
**۱۰۹ـ چی اوږه وکاږ ی ځای ئی جووت و ی.**
۱۱۰ـ یوه تنهاوهلی زانه دگیړله انگو لاهم ویر یږی . (تنهاـتکه ـ تندر)

۱۱۱ـ لوی نوزونه (سیلابونه) له لویو غرونوراځی او لویو نالوته ځی.
۱۱۲ـ تر خوړلی امیدوار ښه دی .
۱۱۳ـ زهر په زهرو وزی .
۱۱٤ـ چی په پیمانه شوه خونه ئی سپیره شوه .
۱۱٥ـ گمان گمان شی ایمان پری زیان شی .
۱۱٦ـ منافق روژ تی لکه د غوبل خوله تړلی غوئی دی .
۱۱۷ـ دهرچاحلق په خپلو لاړو لوند دی .
۱۱۸ـ یوه وینځه ادله ، دادلی وینځه بله .
۱۱۹ـ غوښتل ئی په ډیر نیاز سره وی او سترول ئی خواری غواړی.
۱۲۰ـ نیت بیړئ ده نیت کیړئ ده‌چی‌نیت ئ‌سمیږی بیړئ ئی‌چلیږی ، چی نیت ئی واوړي کیړئ ئی واوړی .
۱۲۱ـ لکه چی ته ئی هسی زه یم خوری څه شی که واده یم .
۱۲۲ـ دیوه یار لپاره سل ریباره غواړه .
۱۲۳ـ په کك یاد په لك یاد .
۱۲٤ـ سودا په رضا خویښی په خوښی .
۱۲٥ـ چی ترکمرپریووت په خولو کښیوت .
۱۲٦ـ ځان ژغوره قابو گوره .
۱۲۷ـ آسونه نعلونه وهل چیندخوهم پښی ورته ونیولی .
۱۲۸ـ مارد ځان له ویری خولی اچوی .
۱۲۹ـ کال به‌رب کړی تیر، خوری ستاسوی زنگون به می‌نه شی‌هیر.
۱۳۰ عمریوه خوله مړی‌نه ده چی سړی ئی تیر کړی .
۱۳۱ـ چی دزړه په هوادرومی هغه خپله سزاومی .
۱۳۲ـ چی څه رنگ ساعت داسی مصلحت .
۱۳۳ـ توپك خو نخښنه ماتوی څه لو ، خو نه کوی .
۱۳٤ـ چیندخ روغی میږی څخه ئی پورغوښو میږی ورته ویل چی هاله . دي نغاری وهلی اوس له مانه پور غواړی .
۱۳٥ـ چی آس پردی وی جگړی پردئ وی بیائی څه په منځ کی خیرغواړی.
۱۳٦ـ دغوړو قدر به څه وه په جهان که دریاب غوندی روان.
۱۳۷ـ په لاس ووزی ښه دی نه ترکاله لیچی .
۱۳۸ـ یوه ویل دوره خاوری بل ویل خوره خاوری .
۱۳۹ـ چی یو لاس غوړ وی بل‌تری غوړ یږی .
۱٤۰ـ درسته هغه ده چی لاس دررغله .
۱٤۱ـ که ډیره می درپسی تنده ده‌قصه به‌هغه کړم چی په‌خـــدای او‌رسول پسنده ده .
۱٤۲ـ اوگره که ښه وای په بازار کی به خرڅیدای .

١٤٣ـ چیچازغل که‌ه ویاړو ،هغه خلاص شه له لوړو .
١٤٤ـ چی په خپله ورشی بیا څله ترېمرور شی .
١٤٥ـ چی له وڅه یولړگی رزیږيښه دی .
١٤٦ـبارخرې نه‌شه وړی خولی ئیپه خرگی لگولی .
١٤٧ـ موږكدشرابو گړیته پریوت اوپیشوئی په کورکی پوښتنه کولـــه .
١٤٨ـ دلنډ لغړ له اوبو څه ډار دی .
١٤٩ـ په د و و بیړیو پښی مه ږده .
١٥٠ـله تودو سوی ، سړوته پوکل کوی .
١٥١ـ څوك سړی وپه بنگورو ږدی نه وه ،چی روږدی شه بیائی پـــــه
ړازه وراچول .
١٥٢ـ دتورو کار کوله سحره سره څه دی .
١٥٣ـ دتورو قارغوله سحره سره څه دی .
١٥٤ـ چی‌نه پیری نه‌خرڅوی بازار ولی تنگوې .
١٥٥ـ چی ږیره وخریی په بریتوځنډ نه کیږی .
١٥٦ـ چی ترخه دی خوړلی نه وی دخوږوپه لذت به نه وپوهیږی .
١٥٧ـچی په کور کیسترشوی وی غابښ ئیمه گوره .
١٥٨ـ پټوی اوښان اوځی ټیټ ټیټ .
١٥٩ـ خواړه دې هغه خوری چی خدای ورکړی وی .
٠٢٥ـ دوې توری په یوه تیکیمنډلی نه شـــی .
١٦١ـ چی کوږ یادوی په کوږ به پیښ شی .
١٦٢ـ پور چی زیرنی شی هیرنی شی .
١٦٣ـ دمیږی چی په پیوورکولو رضانه وی نو پچی په کی کوی.
١٦٤ـ دنورو که‌له نورڅه‌سره دی دموږك خو ،له بنۍ سره دی.
١٦٥ـترکاته خاته ښه دی . (ترکتلو ختل ښه دی .)
١٦٦ـ په کور کی میږی هم بد دی .
١٦٧ـ خواړه یازاړی سخی ( خوسی ) تماموی یازاړی زنکی ( ځوانان )
١٦٨ـ دکوټانی گټه دسپی ده .
١٦٩ـ دتوپك ډز له نژدی لری ښه ځی
١٧٠ ـ د لارې ونه لغړه وی .
١٧١ ـغواچي په غوجل شی ، پسي میرمن په اوښل شی .
١٧٢ ـ تر نامه لاندې ځان په واك نه دی .
١٧٣ ـ یو سړی د بل سړی شیطان دی .
١٧٤ ـ ... کاهی دی زمینداره درب دی کاهی لاړ شی درب پاته شی .
١٧٥ ـ ما لا ښه کړه ، ما ماته خپله پښه کړه .
١٧٦ ـ چې اور ولگی لامده او وچ گډوډ سوځی .
١٧٧ ـ سود او زیان سره نیولی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷۸ ـ آس اسان دی سنج ئې گران دی .
**۱۷۹ ـ خوږه گوته نه پریکولی شی نه سهولی شی .**
**۱۸۰ ـ دښه پلار زوی مه شی .**
۱۸۱ ـ شاهین چې په غوټه شی مرگ ئې هیر شی .
۱۸۲ ـ اوسپنه چې توده نه شی اوږده به نه شی .
۱۸۳ ـ اخوند غره ته نه تلو او یږ جماعت ته راتلو .
**۱۸٤ ـ صدری پور غوښت ندريپري واړا وه .**
۱۸۵ ـ رومبی د وروستی پل دی .
**۱۸٦ ـ ځنگل بی زمري نه وی .**
۱۸۷ ـ سل قصې سر ئې یو .
۱۸۸ ـ اور ته چې نږدې کیږی آخر سو ځیږی .
**۱۸۹ ـ سپی چې غپیږی څه وینی .**
۱۹۰ ـ چې اوږه نه خوری بوی ئې نه ځی .
**۱۹۱ ـ مخ دې ورك شه وینځی چې دوینځی . . . مینځی .**
۱۹۲ ـ کتوری که مات نه شو خو چین ئې ولاړ شو .
۱۹۳ څومره خرکی دومره بارکی .
۱۹٤ ـ مړی نه خاندی چې خاندی کفن څیروی .

**۱۹۹ ـ مور که لیوه شی هم دزوی غوښې نه خوری .**
**۲۰۰ ـ دم چې ډول وهی زور یی لری .**
**۲۰۱ ـ اوبو وړی بوټی ته لاس اچوی .**
**۲۰۲ ـ لمر په گوتو نه پټیږی .**
**۲۰۳ ـ شکوڼ که حلال دی رنگ یی مردار دی .**
**۲۰٤ ـ گل له گله پیدا کیږی خار له خاره .**
**۲۰۵ ـ دوه توري په یوه تیکی منډلی نه شی .**
**۲۰٦ ـ دحاکم کور دریاب دی چې ورپریوت پریوت .**
**۲۰۷ ـ غله ته وایی غلا کوه کوربه ته وایی بیدار اوسه .**
**۲۰۸ ـ آس په خپل قابو ترپیږی .**
**۲۰۹ ـ شاخکی شاخکی چې تولیږی لوی دریاب ورنه جوړیږی .**
**۲۱۰ ـ څرمښکه دپښو په شامت له مارانو ووته .**
**۲۱۱ ـ اوږدی چاری په اوږدو لاسونو شی چې لنډوی بندوی .**
**۲۱۲ ـ دوړی ترفهم روته پلاو وی .**
**۲۱۳ ـ دکښیوتلی دار نه شته .**

(c) kitabtoon.com The Digital Library

۲۱۴ـ که اختر هره میاشت وای چا به اختر بالـه .
۲۱۵ـ ویړیا راغلی ویړیا تللی .
۲۱۶ـ اول طعام بیا کلام .
۲۱۷ـ کاروانه په وخت پوری موقوف دی .
۲۱۸ـ خر ځی شښتن ورپسی ځی .
۲۱۹ـ یوه هاوه هغه هم سخا وه .
۲۲۰ـ مه داسی خوږشه چی خوری دې ،مه داسی تریخ شه چی توکی دې.
۲۲۲ـ ژرنده که دپلار ده خو په وار ده .
۲۲۳ـ چاړه که دزرو وی په نس یی څوك نه منډوی .
۲۲۴ـ دیوه لاس ګوتی هم په یوه شان نه دی .
۲۲۵ـ بی ګودره مـه ګډیږه .
۲۲۶ـ چی تر یوی ویالی توپ کړی بله ورته اسانه وی .
۲۲۷ـ که غـم نه لری نو وزه واخلـه .
۲۲۸ـ کنزدیری خبری که که یی ملافاروق ومنې .
۲۲۹ـ خپله ژبه هم کلا ده هم بلا ده .
۲۳۰ ـفریاد له خوږو زړونو کیږی *سړی چی روغ وی ولی نه کا فریادونه .
۲۳۱ـ لوی پرهار دنیزی ښه دی زر رغیږی ولی بدپرهار دژبې په زړه داغ شی نه رغیږی .
۲۳۲ـ چی باد نه وی بوټی نه خوځیـــږی .
۲۳۳ـ له پیښی تیښتـه نـه شتـــه .
۲۳۴ـ بـی دولـه مـه ګـډیـږه .
۲۳۵ـ دنیا دمسافرو سرای دی .
۲۳۶ـاختر داسی زوی نه دی چی پټ به تیر شـــی .
۲۳۷ـ په پردی لاس مار هم مه وژنه .
۲۳۸ـ یا لویو غرو ته ځـه یا لویو کورو ته ځـــه .
۲۳۹ـ چی نه خوری له هغه باغه ، غم یی په څه خوری .
۲۴۰ـ چی ډب نه وی ادب نه وی .
۲۴۱ـ یـــا مـــړ یـــا مـــوړ .
۲۴۲ـ چی طلب یی کوی آخر به یی مومـی .
۲۴۳ـ یو ساعت دبل ساعت په شان نه وی .
۲۴۴ ـدلمدی ختنی لړی او به دارو دی .
۲۴۵ـ چی بد کوی کارونه هغه بد وینی خوبونـه .
۲۴۶ـ بدی دګیدړ کوه او تیپی دزمرو ګرځوه .
۲۴۷ـ کومه ونه ده چی باد نه ده خوځولی .
۲۴۸ ـکاروان له سترې مه پوښته بغیر له خیر .

٢٤٩ـ وړاندې ترکانی لاندې .
٢٥٠ـ چې غواړی پری واوړی .
٢٥١ـ له ډکه لوښی څه توئیږی .
**٢٥٢ـ چې نه ځی وابه دې اخلم او چې نه خوری څه دې کوم .**
٢٥٣ـ چې غل نه اوړی مل دی واوړی .
٢٥٤ـ که شپه تیاره ده لاس له خولی نه غلطیږی .
٢٥٥ـ خره سپیه که ګرندی یی په ښکار به څرګند شی .
٢٥٦ـ دزړو وزړو ته لاری دی .
٢٥٧ـ سترګی که غښتی دی هم دواړه کسی په زور چل کوی .
٢٥٨ـ څه به بزه وی څه به یی مزه وی .
٢٥٩ـ زیښم که زاړه شی هم له سپنسو ښه دی.
٢٦٠ـ روپی که وړه ده په تول پوره ده .
٢٦١ـ چې ملا وایی هغه کړه اوچې ... کوی هغه مه کړه .
٢٦٢ـ په وچو اوبو ژرنده نه چلیږی .
٢٦٣ـ ژرنده داوبو په زور غریږی .
**٢٦٤ـ بی‌کنګاشه به هیڅ په لاس وانه خلی چې خبروی دکنګاش له برکته .**
٢٦٥ـ خت په خت پوری نیســه .
٢٦٦ـ بی له دی چې نامرادی ته ورسیږی ګنه نشته **ومراد** ته رسیده.
٢٦٧ـ خپله شاپه خپلو نوکرنو ښه ګریږی .
**٢٦٨ـ او ګره دې وی توده دې وی .**
**٢٦٩ـ چت ته جوړ کړه نقش له ما پرې غواړه .**
٢٧٠ـ نوك ځای کړه له نوك نه به دسوك ځای وشی .
٢٧١ـ پردی دستار په سر ، دمار تړل دی .
٢٧٢ـ سترو کورو ته ریبار غواړه سترو غروته لار غواړه .
٢٧٣ـ چې نیم غوئی له پوسته شه وروسته دښنو پریکول ورپه یادشول.
٢٧٤ـ یو خورم بــل پخــوم .
**٢٧٥ـ بلا چې پرته وی هومره ښه وی .**
٢٧٦ـ اوبه چې تر سر واوړی څه یو ګز څه دوه ګزه .
٢٧٧ـ اول ملګری بیا لار غواړه .
**٢٧٨ـ میښی ! میښی ! که دیوه غره نه یو ، دیوی بیشی .**
٢٧٩ـ له کنډاسی خولی بی اختیاره لاړی بهیږی .
٢٨٠ـ له هر چا سره خبری دهغه دعقل په اندازه سره کوه .
٢٨١ـ کوز وی که پاس وی خو چې په لاس وی .
٢٨٢ـ خپل ګریوان دبل په لاس کی مه ورکوه .
**٢٨٣ـ میږیه میږیه دا سردی ولی غټ دی دعقل له زوره داملا دې ولی**

نری ده‌دوسلی له زوره‌دا ... دې ولی غټه ده میږونه په ... کی خبری نه کوی .

۲۸۵ چی ږور شی سوړ شی .

۲۸٦ـ مارچی سوړی ته ورشی نو سمیږی ته دتبر په سرپرت یی نه سمیږی .

۲۸۷ـ بوږی غاړی سندرې ویلی نه * شـــی

۲۸۸ـ بلا له هغی پاخی چی یی کړنګ له پوزی ځخخی .

۲۸۹ـ په نبه یی‌ونیسه مرک به به راضی شی .

۲۹۰ـ مرغلری په غوجل کی مه غورزوه .

۲۹۲ـ سپینه ږیره په کارنده چی زړه تور وی .

۲۹۳ـ سترګی له سترګو نه شرمیږی .

۲۹٤ـ کاله کله مسخری دا یمان زیان وی .

۲۹۵ـ له ... سپی نه چا پوښتنه وکړه چی په لارکی څوك درسره ښه وو، ورته وویی ویل چی تول ښه ووخو بلامی دې په خپل قوم پر یوزی .

۲۹٦ـ ښه دی هغه ترخه چی وروسته وی خواږه .

۲۹۷ـ داغ په سپینه جامه لګی .

۲۹۸ـ دیو له خپل سیوری ویریږی .

۲۹۹ـ غله ته هر بوټی سړی دی .

۳۰۰ـ غر، غر لره زر ترپ مه کوه .

۳۰۱ ـ برټ په لړی بانی په سړی نښلی .

۳۰۲ ـ ګنده‌یری که دګلاب غوندی ګل لری په دی ګلاب نه شه .

۳۰۲ـ پیشو هومره درویشه ، چی په پیونه د ه‌پیشه .

۳۰٤ـ اخوند ګرمولم زه نه ګرمیدم .

۳۰۵ـ دګیدړ استازی ګیدړ وی دزمری زمری .

۳۰٦ـ پښی هغه ځای ته ځی چی زړه ورځـی .

۳۰۷ـ توره که تیره وی په ګذار به څرګنده شی .

۳۰۸ـ که وریځ توره ده او به سپینی تری راووری .

۳۰۹ـ له سترګو لیری له زړه لیری .

۳۱۰ـ چی له هر چاسره اوسی له هغو به برخه یوسی .

۳۱۱ـ پردی خواږه خواږه دی .

۳۱۲ـ چی تیر شی قدر یی بر سیر شی .

۳۱۳ـ بلاوه برکت یی نه وه .

۳۱٤ـ وړل دګانړو دلویو غرونو له سرونو په سرښه دی‌دهرچا له منتونو

۳۱۵ـ قصه چی په سنده‌وی هغه له خونده وی .

۳۱٦ـ چی لږخوری هغه تل خوری چی‌ډیر خوری هغه ګندبهیر خوری .

۳۱۸ـ چی په سریی چاړه شی خدای یی په زړه شـــی

۳۱۷ـ زیاته ونه چی‌پری کیږی زیاتیږی .

۳۱۹ـ برخه کومه بدهده چی ورښناره ئی کړی او ورئی نه کړی .
۳۲۰ـ اوړه چی خمیره شی هرڅوك کوتی کی وهـــی
۳۲۱ـ منگی‌هسی مات وډ بلی ئی بانه شوه .
**۳۲۲ ـدبنجخو له حاله میږی پوښته .**
۳۲۳ـ ویشلی دغوړولایقی دی .
۳۲٤ـ خواږه هاله خوره‌چی نعمت شی‌اوبه هاله چښه چی شربت شی .
۳۲۵ـچی‌په مرغانو قلنگ راشی نوقطبیز وایی‌چی‌موږك یم اوچی‌په موږکانو راشی نووایی چی قطبیزیم .
۳۲٦ـ لاس چی مات شی غاړی ته ځـــی .
**۳۲۷ ـزوی او لور مور او پلارته ژاړي .**
۳۲۸ـ خر به څه وی چی بار نه وړی .
۳۲۹ـ ستاپه ترغ کی‌هم ورړی ښوری .
**۳۳۰ ـدسندا ورته میښه ده .**
**۳۳۱ ـزمایی په اسلام کی شك دی اودی مریدان نیسی .**
۳۳۲ـ یوپسی رسیدی نه شه اوبل ورته ویل چی‌تری تیرشه اوپری‌راو گرزه .
**۳۳۳ ـچیرته خرچیرته . . . .**
۳۳٤ـدگوډی خوله خلاصه شوه او دردنو لارو شوه .
۳۳۵ـ خدای خبردی چی اوښ به په کومه گونډه چوکیږی .
**۳۳٦ـپیشو چی خوب وینی خو موږك په خوب کی وینی .**
**۳۳۷ ـدهیري زوی به هیري پسی ځی‌دوزي زوی به په وزې پسی ځی .**
۳۳۸ ـ پرسیدلی په خپلی . . . **خلاصیږ ی .**
۳۳۹ـ کبان کبان په اوبو کی سره وینـی .
۳٤۰ـ چیرته گنجی چیرته سالو .
**۳٤۱ ـپه دودو راپسی ځغلی درجاوزی کردی خپلی .**
۳٤۲ـ مادرپسی مټ نه تالا ځان رانه غټ نه .
۳٤۳ـ نه باز یی نه باښه پهدی خوشی خلق‌کی ناست‌یی غوښی خوره.
۳٤٤ـ وطن دونددی بادشاه ړوند دی .
۳٤۵ـ له ړندو سترکو نو باسی .
۳٤٦ـ خرمی هم شته خربه می‌هم شه .
**۳٤۸ ـوبه‌دی شوکوم خودپیازو پنده به دي‌په سرنه وی .**
**۳٤۷ ـموټ دي راوړی‌لاخاندی .**
۳٤۹ـ چی لري می، لرم به دي ، چی‌لري می لرم به دي .
۳۵۰ـ نه دځان دساتلو وی نه دیار .
۳۵۱ـ اوښانو نه ژړل بوریو ژړل .

۳۵۲ـ خپله ښبنه یمی پخپله په تبر ووهله .
۳۵۳ ـ کیدړ په ونه ختی نه شه ویل یی چی ترخه ده .
۳۵٤ـ آسمان په لوټو ولی .
۳۵۵ـ بر بند له لاری غړیږی او وږی له لاری نه غړیږی .
۳۵٦ـ یوه ورځ دوه ئی سیوری .
۳۵۷ـ دپاچاهانو خوب په میږتانه دی .
۳۵۸ـ دبیزو ورور دی په خپله پرهارلویوی .
۳۵۹ـ تراټ ښه دی که متروکه ، لعنت شه په دواړوه توکه .
۳٦۰ ـ چی څه رنګ تاره هسی یی کربوړه ،چی څنګ غرهسی ئی غرڅه .
۳٦۱ـ په خپله پوزکی بلا راغله بوچکی .
۳٦۲ـ زوړ شوی مسلمان نه شوی .
۳٦۳ـ رامه شی‌دغم کاروانه سوددی نه راوړبی زیانه .
۳٦٤ـ خوب‌چی‌زوړ شی‌بالښت‌نه غواړی زړه‌چی‌مین‌شی‌ښایست نه غواړی.
۳٦۵ـ له ماتی لندی دوه کسه ویریږی .
۳٦٦ـ نه دې نژدی کتی شم نه دې لېری پریښودی شم .
۳٦۷ـ دغله په ږیره خس وی .
۳٦۸ـ پلاردی سواروم‌کړو که پلیو! چی‌زماله ښې‌ووت‌څه شی‌چی‌چام‌کړو.
۳٦۹ـ همیشه دګنجی له سره پخه رژوی .
۳۷۰ـ کوړك کوړك دلی‌کوی او هګی بل‌کلی اچوی .
۳۷۱ـ شنی په غلانه چیچل کیږی .
۳۷۲ـ دبیدیا سپی راغلل دکلی سپی ئی وشړل .
۳۷۳ـ کوڼ په یوه خبره دوه واره خاندی .
۳۷٤ـ لکه لیونی سپی ځان ته خولی اچوی .
۳۷۵ـ لکه دمرداری سپی یوپه بل خولی لګوی .
۳۷٦ـ پك په سر ږمنځ وهله وینی یی پرمخ راغلی .
۳۷۷ ـ دال دکیندې ښه دی تیغ دفرنګی .
۳۷۸ـ چابلا نه ویل‌چی ته به راشی که‌زه درشم ویل یی‌چی ته مه راځه
زه بــه درشـــــم .
۳۷۹ـ ماپه روزی پسی مه وګرزوی روزی په‌ماپسی وګرزوه .
۳۸۰ـ څه لوړو څه دپك سرلغړو .
۳۸۱ـ کنډهیری می‌په تل‌کی زښتو ، اودی‌په خولی‌پوری رانه ودریده
۳۸۲ـ که زه نه وایم زمادامانه ښبنه به ووایی .
۳۸۳ـ چیری خوله چیری څنګل .
۳۸٤ـ سپی هډوکی خوری خپلو کولمو ته نه ګوری .
۳۸۵ـ داسی خبری وکړی چی دخرو تبی شی .

۳۸٦ ـ که څه وایم کلي‌دی که څه نه وایم دخاني زوی روی دی .
۳۸۷ـ بی ځایه خندا ژړا ده .
۳۸۸ـ څوك چی‌تا ته وایی غوږ دی‌سپی یوړو نو ته به په سپـی پسـی
ځغلـی که خپل غوږ ته به لاس ورووړی .
۳۸۹ ـ لکه نرکچوردی دلونه خوند بدوی .
۳۹۰ ـ نه به دي‌ځاځکی سوړ که ، نه به دي خڅو زکی موړ که .
۳۹۱ ـ اوبه راځی له پاسه ښکته په ژړا ژاړي له فراقته چی لاړولاړو بیا
به رانه شو ارمان تیره ساعته .
۳۹۲ـ ړ‌ونډ اوکوڼ ، پك اوشل په هرځای کی چی کښینی کوی‌خلل.
۳۹۳ـ چی مـور میـره شی پـلار پلنـــدر شی .
۳۹٤ خره جولارا باله جولاخر ورباله ، لیوه خبره شه خریی پړق وخیره.
۳۹۵ ـ دتیل هوسی داخوی چی‌ته لری ښه یی نه لری وانبه دسمی خوری
هوا د غره لری یوه ورځ به په هسی ښکاری وا وړی چی خپل بدن به پـه
وینو ولړی .
۳۹٦ـ څه غر تور ؤ څه لړو تور که .
۳۹۷ ویښته می ځیری کول کسی می ووتل .
۳۹۸ـ بـد ویـل دځـان دی .
۳۹۹ ـ چی باران نه وه توی وچ‌وه چی وشه څپرونه یی توی ته یووړل .
٤۰۰ـ برگ که بار دی خویو ساعت په کار دی .
٤۰۱ ـ دیوه اصل دیوه فصل ته ساهو شوی زه کم اصل .
٤۰۲ـ په ړندو کی دیوی ستر کی ښتن پاچا دی .
٤۰۳ چی‌له مکی لیری ووحج یی‌وشه چی‌مکی ته نږدی‌وو له حج نه پاته شول.
٤۰٤ـ په مار چی اجل ورشی په لاری برابر شی .

PROPERTY OF ACKU 1508

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**